2 - JUN 11
Copy ____ 1957

Mach 5, 1957

23

پرله پسې نمره (۴۲۸)

ښه شعرونه

نشته هغه وخت چه خپل جانان را سره درومی
لاس په لاس وباغ ته خرامان را سره درومی
چا څخه به غواړم زه سراغ د سرو قدو
خضر پدې لاره چه حیران را سره درومی
زه او تصور د یار د مخ سره همراه یو
هر چېرته چه څم ماه تابان را سره درومی
درومم زه صحرا ته د فراق غمونو تنګ کړم
روح د مجنون وینم همعنان را سره درومی
مینې سرګشته لکه اسیا کړم نه پوهېږم
زمکه پر ما ګرزی که آسمان را سره درومی
وصف چه له سوزه د ګلرخ زه پیرمحمد کړم
درومم په ژړا بلل نالان را سره درومی
(پیرمحمد کاکړ)

کرشمې ناز و نه واړ ولره نه دی
ناز یباؤ بد بوتاړ ولره نه دی
قنج و ناز دې نازنین کا چه پرې ښائی
بد وشو نډ ولو یو داړ ولره نه دی
د پټ راز خبرې کېږی وراز دار ته
دا خبرې ګر ېوان پار ولره نه دی
په همت باز او شاهین شه چه ته ورشې
د پادشاه منګولی خراړ ولره نه دی
لېونیان ئې په ځنځیر د زلفو بند شوه
سلسلې د روغو غاړ ولره نه دی
یوه شپه را سره کښېنه چه زړه تش کړم
د ډېر راز ویل ولاړ ولره نه دی (یونس)

(۲۶ کال) (۲۳) گڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

د امتیاز خاوند پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا الفت

مسئول مدیر محمد دین ژوارک

پته: د محمد جان خان واټ د پخوانی لیک او اصول د ښوونځی ترڅنګه

د تیلفون لمبر (. . .)

ددی گڼی لیکنی او لیکوال

د ۱۲۳۵ش کال د حوت (۱۵) د ۱۳۷۶ق کال د شعبان (۳) د ۱۹۵۷ع کال د مارچ (۵)

گڼه	لیکونکی	لیکنی	مخ
۱	دادب په شاو خوا کښې	ښاغلی شاه محمد رشاد	(۱)
۲	دغرب تمدن	« رحیمی	(٤)
۳	بشری ټولنی	« ایوبی	(۵)
٤	ښې وی	« لونکین	(۸)
۵	دخدای خلیفه	« بختانی	(۹)
٦	ته تلی	ژواك	(۱۳)
۷	زوږه جوړه شوه	ښاغلی ترکی	(۱٤)
۸	خونده وره فلسفه	« واسیعی	(۱٦)
۹	داتحاد شوروی . .	« م ـ ح سابی	(۱۸)
۱۰	رارسیدلی لیك	« گران	(۲۱)
۱۱	پښتنو لۍ . . .	« حداد	(۲۳)
۱۲	دخان عبدالصمدخان	« سیفی	(۲۸)
	کتاب مدون او ټولوونکی	محمد دین ژواك	
	څهرې	٤ قطعې	

نوت : دلمړۍ پشتۍ منظره په پنجشیر کښې یو کپ نیونکی ښئې

څېړونکی ښاغلی شاه محمد «رشاد»

دادب په شاوخوا کښې

ډیر خلك دادب خاوند ان دی
اوپه ناسته ولاړه، تګ اوراتګ
لیدو کتو، خوراك او څکاك
جرګو اومرکو، کالواغوستلو
اوجنټل مین کیدلو باندی
ډیر ښه پوهیږی حتی چه ډانس ئی
هم ښه زده وی اما سره له دی
ټولو شیانو څوك ورته ادیب نه
وائی اودادباؤ په ټولنه کښی
ئی نه شاملوی همدارنګه ډیر
خلك وی چه خړپړ ګرځی، دمجلس
په مناسباتو باندې خبر نه وی
دکورا و دباندی جامی
ئی یورازوی، دپښتنو خبره
ژرنده او جمات نه پیژنی
دلویو خلکو سره داسی پیش آمد
کوی چه دخپلو همزولو سره
ئی کوی، دیپلو ماتو او سیاسی
خلکو سره داسی بی پردی
غږیږی لکه چه دیوه صمیمی
اورښتیانی آشنا سره غږیږی
چل ول ئی زده نه وی، دلاس
اوسترګو حرکات ئی په عادی
ډول سره وی. دلویانو دمیز
په خوا کښی غاړه نه کږوی

په لاس ډودۍ خوری، دبالاپوش
او پګړۍ یاخولۍ سره دوزراؤ
دوزارت په مقام کښی اودرؤساو
دریاست په کوټه کښی ننوځی
اوسر سرتورول پری ډیر سخت
تیریږی، بیاورسره ورسره دادب
خاوند بلل کیږی اودادیبانو
په حلقو کښی ډیره لوړه مرتبه
لری، او خلك ورته ادیب وائی
او دادب څښتن ئی بولی،
تاسو به وایی چه شاید دوم سړی
په لیکلو او لوستلو باندی قدرت
لری او ښه خط لیکلی شی او هر رقم
توری لولی او لمړی سړی به
لکه ځنی پیشخدمتان او
خانه سامانان بی سواده وی نو ځکه
یوه ته دادب خاوند ویلی شو
او هغه بل ته دادب خاوند
نه ویل کیږی دا ځواب
زما مطلب نه حل کوی ځکه
چه ډیر کسان دی چه ښائسته
خطو نه هم لری حتی دادارو
اودتجارتخانولو ئې لوئی
سرلوحی هم ددوی په قلم لیکلې شوی
وی خو بیا هم دادباؤ په ډله کښی ئی

څوك نه شمیری او ځنی خلك
دی چه ددوی د کرښی لوستل
هم د هر چا د لاسه پوره نه وی
اما ادیب وی او دادباؤ
په حلقه کښی جک مقام لری
نو د ادب د کلمی دد غه رنګه
استعمال او عدم استعمال څخه
په ښه شان سره څرګندیږی
چه ادب جلا جلا معنی ګانی
لری هلته چه د معاشرتی ادب
خاوند انو ته ادیب نه ویل
کیږی او دادباؤ، په ټولګی
کښی ئی څوك نه داخلوی دادب
څخه فن او علم مقصدوی او هلته
چه خړپړا و د اوسنی تهذیب
یوه بی خبره سړی ته هم دقدر
په سترګه کتل کیږی او دادباو،
په حلقه کښی ورته په دروندوالی
قائل وی دادب څخه
دعلم او فن مرادا خلی، په دی
اعتبار سره سړی ویلی شی
چه یو معاشرتی ادب دی او یو
علمی او فنی ادب. معاشرتی ادب
هغه اخلاق او سیرت دی
چه په خلکو کښی رواج

لری او دتعامل یا د عرف په
اثر به ځینې ته ښه او ځینې نورو ته
بد ویل کیږی او دنیکو خاوندانو
ته ئی د ادب ښتن یا مؤدب
ویلی شو او د بدو خاوندان ئی خلك
بی ادب او یا غیر مهذب بولی
د دې قسم ادب او بی ادبی یا
نیك اخلاقی او بد اخلاقی
بنسټ هم هغه د خلکو رواج
او دود کښل شوی دی او د فلسفی
او حکمت یا منفعت او فائدی
یا نقصان وضرر اغیزه په دغسی
ښو اخلاقو او بدو اخلاقو باندی
ډیره لږه وی. البته پدې
کښې هم څه شك نشته چه د دغه
دوه نو اورو اجونو د پاره هم په
اصل حقیقت کښې ځینې علل
او موجبات موجود وی چه د هغه
په اثر منځ ته راغلی دی او داوږدو
زمانو په تیریدلو سره ئی
د رواج او دود حیثیت
موندلی وی اما پس له هغه چه
د خلکو په دماغو کښې ئی
د رواج په حیث ځای ونیو
بیا نو د هغه اصلی علت یا د نوته
یا د فلسفی او منطق او معقولیتو ته
څوك نه ګوری. را غلو دې ته
چه ادب په علمی او فنی ډګر

کښې دځه شی توم دی په دی
ساحه کښې د ادب د پاره دوه
معنی ګانی څر کند یږی چه
یوه ته خاص او بل ته عام ویلی شو
د ادب د کلمی مخصوصه معنی
داده چه ادب د هغه سپیڅلې
او موثری وینا نوم دی چه
دلوستونکی او اوریدونکی په
ذهن کښې فنی لذت او فکری
خوند پیدا کوی دا قسم خبرو ته
که شعر وی که نثر تولو ته ادب
ویل کیږی د معاشرتی ادب
او د علمی او فنی ادب په منځ کښې
په قطعی ډول سره څه منافات
نه معلومیږی بلکه لا یو راز
مناسبت او علاقه هم د دوی
په منځ کښې شته هغه داده چه
کله د معاشرتی ادب د ښو ونکی
په باره کښې د مؤدب کلمه
استعمال شوه نو په دغه کلمه کښې
څه وسعت پیدا شو او د دې
کلمی معنی د ښوونکی په معنی
شوه بیا نو لکه چه یخوا نو زمانو
کښې زمونږ په وطن کښې هم
رواج وو نو د قوم مشران
او لویانو به خپلو ځامنو او
جنګو د پاره ناظمان نیول او دغه
ناظمانو به خپلو شاګردانو ته

قصی او نقلونه او شعرونه ویل
او قصیدی به ئی ور ښودلې نو
هر کله چه په دغه استاذانو باندې
د ادیب یا مؤدب کلمی د ښوونکی
په معنی اطلاق کیدلی نو
د دوی د رسو نو ته به خلکو
ادب ویل او دې خبرې د ومره
پراخوالی پیدا کړ چه ادب
د هغه علومو او فنونو
د پاره نوم شو، چه
د غه شیان و رپوری اړه لری
لکه صرف، نحو، بلاغت، بیان
بدیع، او نور حتی چه د ادب
کلمه او د هغه مشتقات په دغه
محیط کښې هم ځای نشو او
دی حد ته ئې وسعت و مینده
چه د ثقافت د کلمې سره ئی
ځان برابر کړ او د هر عالم
او د ثقافت خاوند ته ولو که
د سیاسی او د ینی علومو
عالم وی هم ادیب ویل کیږی
هو! په مسلمانانو کښې تر دوهم
او دریم قرنه پوری ثقافت په
د وه ډوله ویشل شوی وو
او هر یو ځانته ښوونکی درلود
(۱) د ینی ثقافت چه په دی
کښې قرآن او قرآنی علوم
احادیث او د احادیثو علوم

بیافقه ، اصول د فقهی - کلام
علم التوحید داخل وو(۲) لغوی
ثقافت چه په هغه کښی د ژبی
او لغت مربوط شیان لکه صرف
او نحو او نور شامل وو - اما
په او سنی عصر کښې د واره
ثقافتونه سره یو شوی دی او د
یو والی مهم او لوی علت ئی
همدا دی چه د دینی ثقافت
هغه مقدس کتاب چه د نورو
دینی کتابونو دپاره د مرکز
حیثیت لری (قرآن) په ادبی
علومو کښې خورالوی وسعت
پیدا کړیدی او د هغه په معانیو
باندی ښه پوهیدل بی دادبی فنونو
دزده کولو څخه گران کار
دی . نو او سنیو دینی علماو،
دادبی علومو څخه لویه برخه
اخستی او او سنی ادیبان هم
علی الاکثر هغه خلك دی چه
د دینی ثقافت دلاری څخه ادبی
دگر ته راوتلی دی . البته دا
بیله خبره ده چه دهجری سنی
داولی سدې په منځ کښې به
مسلمانانو د دینی ثقافت ښوونکی

ته چه دوی ته به ئی د قرآن
او حدیث تعلیم ورکاوه د ډیر
تعظیم په وجه مرشد، شیخ مربی
ویل او ادیب به دوی ته نه ویل
کیده ځکه چه ادیب دفروعاتو
او د غیر ضروری شیانو لکه د
اشعارو او قصصو او د علم الانساب
دښو ونکو لقب وه او اوس
خبره دی حد ته رسیدلی ده چه
څنی د لغوی ثقافت خاوندان
د دینی ثقافت زده کړه یاد هغه
ثقافت دخاوندانو القاب دځان
دپاره نه خوښوی او د ادیب
لقب ئی خوښ دی، هر کله چه
د دغی خبری د علت په بیانولو
سره مونږ د موضوع څخه
اوزو، نو ځکه داخبره همدلته
پریږدو اما یوه بله خبره
په دی ځای کښی وبرښنده
او هغه داده چه ځینی خلك
دلغوی ثقافت او علمی پانګی
خاوندان وی دمثال په ډول
دصرف او نحو، معانی، بیان
بدیع علمونه ئی په ښه تو که

ویلی وی او بل چا ته ئی هم
ور ښئی اما د ادبی کلام په
ویلو او یا په لیکلو باندی قدرت
ورسره نه وی، دلته باید زما دغه
تعجب ته په داسی شان ځواب
ورنه ویل شی چه گوندی یو
نظری ادب او بل عملی ادب
دی او د ادب فن هم لکه د
نخنیك علم په نظری او عملی
باندی ویشل شویدی . ځکه
چه د ادب علوم او فنون ټول
آلی علوم دی او داسی آلی
هم نه دی لکه ترښځ یا اره
چه لهار به ئی جوړ وی او
ترکان به ور څخه کار اخلی
بلکه د دوی د پیژندگلوی
په وخت کښی ددوی استعمال
هم کیږی او تطبیقی مثالونه
ورته راوړی . حقیقت دادی
چه د ادبی کلام سره تاثیر مل
وی او تاثیر یوروحی شی دی
چه هغه فاعلی صورت (مؤثریت)
دهرچا په روح کښی موجود نه دی،

دغرب تمدن

-۳-

اولنۍ پیړۍ:

ارسطـو:

که ټول اختیارات او واك دیوی جامعی دیوه اقلیت په لاس کښی وی او هغه اقلیت دجامعی دبهبودۍ او ښګڼو دپاره فعالیت کوی نو ارستو داسې حکومت ارسطو کراسی بولی او که دا اقلیت بیا دخپل شخصی مفاد او منفعت دپاره کار کوی نو دارستو په اصطلاح اولی ګارشی روی کار کیږی یعنی یوه محدوده طبقه واك په لاس کښی لری او دخپلو مفادو دپاره کار کوی که دحکومت زمام دا کثریت په لاس کښی وی او هغه هم دا کثریتو پر مفاد کار کوی نو ارسطو داسی حکومت پالیتی بللی دی او که واك دا کثریت په لاس کښی وی او اکثریت دعمومی او دټولو پر مفاد کار کوی نو ارسطو داسی حکومت دیمو کراسی بولی. دارسطو دا دحکومت تقسیمات داقتدار او صلاحیت دحیث څخه دی. اوس هم په لږ تغیر سره دغه تقسیمات دحکومت داقتدار او قدرت له حیثه منل شوی دی او سنی تقسیمات پر دې ډول دی: چه یا یو حکومت دیکتاتوری او ټول واك وقدرت او صلاحیت دیوه نفر په لاس کښی وی داسی حکومت که دتشکیلاتو له حیثه جمهوریت وی یا شاهی بیا هم دا قتدر او صلاحیت له حیثه دیکتاتوری دی په داسې حکومت کښی مقننه قوه او عدلیه قوه داجرائیی قوی تر اقتدار او صلاحیت لاندې وی داقتدار له حیثه دوهم ډول حکومت داسی وی چه یوه محدوده طبقه حاکمه وی او ټول اختیارات دهغه په لاس کښی وی داسی حکومت هم ممکن دی چه دتشکیلاتو له حیثه جمهوریت او یا شاهی وی خو بیا هم قدرت دهغه یوی طبقی په لاس کښی وی که دی طبقی دا امتیازات دمځکی او سرمایی او یا قدامت او مشروالی په لحاظ اخیستی وی نو دی حکومت ته ارستو کراسی وائی او که ئی امتیازات دروحانیت په لحاظ حاصل کړی وی نو ودی ته بیا لیتو کراسی وائی په دی ډول حکومت کښی هم مقننه او عدلیه قوه تر اجرائیه قوی لاندی وی.

دریم ډول حکومت دا ډول دی چه ټول اختیارات او واك دخلکو په لاس کی وی او هغه حکومت دا واك او اختیارات دخپلو نمایندګانو په واسطه په کار اچوی دې ډول حکومت ته دیمو کراسی او په اوسنی اصطلاح پارلمانی حکومت وائی، دیمو کراسی یا پارلمانی حکومت به دتشکیلاتو له حیثه یا جمهوری وی او یا شاهی ولی دا حتمی نه ده چه دیمو کراسی حکومت به حتماً جمهوری وی په پارلمانی حکومت کښی حاکمه قوه او یا په بله اصطلاح اختیارات او صلاحیت دمقننه قوی، عدلی قوی او اجرائیه قوی په مینځ کښی ویشلی شوی وی او مقننه قوه تر اجرائیه قوی لوړه وی خو عدلیه قوه مستقله او تر هیڅ ډول نفوذ لاندی نه وی. ددی تفصیلاتو څخه داسی

معلومیږی چه هغه دارسطو تقسیم
دحکومت دا قتدار او صلاحیت له
حیثه اوس هم سم دی .
ارسطو وائی چه د یوی جامعی
قانون دیوی جامعی خورا غوره
سیاسی عنصر دی که په یوه جامعه
کښی قوانین تدوین او تطبیق نشی
نود جامعی نظام خرابیږی او
خو دسری پیدا کیږی. دسیاسی
علوموا وسنی علماهم لکه تامسن
هابس او جان لاك دارسطو دغه
نظریه تائیده وی او دقانون داهمیت
په باره کښی غوره نظریی ور کوی
چه ددغو علماؤ په نظریو کښی به
وروسته تذکرور کړشی .

ارسطو وائی چه په یوه جامعه
کښی دری طبقی خلك (متموله طبقه
متوسطه طبقه او غریبه طبقه)
ژوندون کوی نبه جامعه هغه جامعه
ده چه په هغه کښی متوسطه الحاله طبقه
قوی او فعاله وی دارسطو د
نظریه بیخی پرځای ده او اوسنی علماً
هم د دی طرفدار دی چه باید متوسط-
الحاله طبقه تقویه شی خو اوسنی
مشکلات دادی چه کمه طبقه
متوسطه الحاله طبقه ده؟ او څرنګه
کیدلای شی چه متوسطه الحاله
طبقه دې تعین او وتاکله شی؟

دار سطو په نظر په که په یوه
جامعه کې غنی او بډایه
طبقه ډیره قوی وی نو په هغه
جامعه کښی «اولی گارشی»
روی کار پیږی چه دا «اولی کارشی»
بیا په مستبده بد لیږی او که
په یوه جامعه کښی غریبه طبقه
قوی وی نو په هغه جامعه کښی
اول د یمو کراسی روی کار
کیږی اما دا د یمو کراسی
ډیر عمر دوام نه کوی ژر تر
ژره په مستبده بدلیږی یوازی
په هغه جامعه کښی یو صحیح
نظام جوړیدلای شی چه متوسط الحاله
طبقه ئی قوی او فعاله
وی. دقوانینو دتدوین په وخت
کښی باید د متوسط الحالی طبقی
مفاد مد نظر ونیول شی چه دا
طبقه قوی شی . د ارسطو دا
پورتنی نظریی حقیقت ته نزدی
دی او اوسنی علماً هم پر
متوسط الحاله طبقی باندی او دهغی
د تقویې د پاره نظریی ښکاره
کوی او وائی : په هغه جامعه
کښی چه متوسطه طبقه نه وی او
فقط غریبه او غنی طبقه وی
هغه جامعه د سعادت څخه
بی برخی وی.

داجتماعیاتو بحث :
غلام محی الدین ایوبی
د ادبیاتو لیسانسه

بشری ټولنې

څنګه قانون خوښوی؟

فرد بیل او ټولنه بیله ده، یعنی
دفرد خاصیت بیل دی او ټولنه
بیا بل ډول خواص لری .
که څه هم دافرادو د یو ځای
کېدو او غونډېدو څخه ټولنه
جوړیږی یعنی فرد چه د نورو
سره یو ځای شی خپل لومړی
خاصیت د لاسه ور کوی او بل
ډول خاصیت اخلی ، ددې
دپاره چه دلته داخبره ښه ښکاره
شی د مثال په ډول وایو:
اکسیجن یو غاز دی او هایډروجن
یو بل غاز دی چه د دغو دوو
غازونو خاصیتونه بیخی بیل او
جلا دی ، اکسیجن د لګولو
سره مرسته کوی او هایډروجن
داو بو بخار تولید وی که یوه
برخه اکسیجن دهایډروجن
له دوو برخو سره یو ځای شی
نو سمدستی دواړه غازونه خپل

شکل او خاصیت الیشوی او دریم
شی یعنی او به ځنی جوړ پېژ ی
چه ددغه مرکب (او بو) خاصیت
بیادا کسیجن او هایدروجن څخه
بیخی جلادی ، دغه رنګه فردهم
یوراز خو اص لری خو چه په
تو لنه کښی ګډ شی هغه خپل
خواص دلاسه ورکوی او بالعکس
نور خاصیتونه اخلی ، مثلا فرد
د یواځی توب په حال کښی تل له
عقل څخه کار اخلی ، بې زړه
وی او هم د مسئولیت څخه بیر پېژی
خو چه تولنه تشکیل کړی دغه
بې زړه فرد زړه ورشی ، عقل ئی
یو تهوری رنګ پیدا کړی حتی په
ځینو وختو کښی دلونتوب حال
ته رسیږی او هم هیڅکله د مسئولیت
پروا نه کوی تاسو و ګوری چه
افراد د مظاهرو او انقلابو په وخت
کښی هغه کارو نه کوی چه
دیواځی توب په حال کښی به ئې
هیڅکله و نکړی او س دې خبری
ته راځو چه بشري تولنی هم پخپلو
منځو کښی بیلو الی لری ، یو ه
تولنه او بله تولنه په ډېر و شیانو ،
خو یو او کارو کښی سره جلا ده
که څه هم ټول هغه یو انسانان دی
او باید چه دومره ډېر فرق ئی
نه سره در لودای خو ډېر و عواملو
بشر ی تولنی په خوی ، فکر ، عمل
دژو ندانه په چلند او نورو شیانو
کښی سره بیل کړیدی سبب ئی
دادی چه انسانان ځانو ته مخصوص
او ممیزه خواص لری ، او هغه ئې هم
د محیط ، زمان او مکان ، تقاضا ،
خواهش ، ضرورت او دغه رنګه
د دین ، نژاد او افکارو د بیلوالی
په نسبت غوره کړیدی ، مثلا
دا نګریز کلتور یو ډول دی
او د پښتنو کلتور له هغه څخه
بیخی بیل شی دی ، انسانان چه
په یوه تولنه کښې ژوند کوی د زمانی
په تیریدو سره کرار کرار یو ډول
خو یونه ، افکار ، نظریات دو دونه
او نور اخلی چه له هغو څخه
کلتور منځ ته راځی ، د لته
باید داخبره و شی چه تو لنی
هیڅکله خپل کلتور ، عنعنات
او اخلاق دلاسه نه ورکوی هو
د یو او بل څخه ډېر نور شیان
اخلی ، یو سړی یو ه اختراع
او کشف و کړی تولی بشری تولنی
له هغه څخه استفاده کوی
لیکن پښتون هیڅکله په بل ملیت
کېدای نشی او خپل ملیت نشی
تبدیلولای دا ځکه چه د بل ملت
او پښتون ممیزه او مخصوص
خواص سره ورته نه دی بلکه له
مځکی څخه تر آسمانه پورې
فرق لری. اوس په دریمه مرحله
کښی دی خبری ته راځو چه بشری
تولنی څنګه قانون خو ښوی؟
ددې پوښتنی د ځواب لپاره د تیرو
کرښو څخه استفاده کوو او دهغو
په رڼا کښی خپل دغه مطلب
لاس ته راوستلای شو.

مونږ ته دا ثابته شوه چه
د بشری تو لنو په منځ کښی
د محیط ، زمان ، مکان ، تقاضا
خواهش ، ضرورت ، اقلیم ، اخلاقو ،
دین ، عنعناتو ، افکارو او نظریاتو
ترمنځ ډېر فرق شته ، قانون
هغه شی دی چه انسانان ئی
پخپله د ځان د آرامی ، لورتیا
او نیک مرغی د پاره جوړ وی
او هم د قانون بنسټ په پورته شیانو
ولاړ دی یعنی قانون له پورتنیو
شیانو څخه سرچشمه اخلی
او د تولنو د ممیزه او مخصوصو
خواصو نتیجه او ثمر دی ، چه
یدې حساب باید د بشری تو لنی
قوانین هم یو له بله بیل او متفاوت
وی ، دا خبره حقیقت ته نژدې
ده او موږ وینو چه په چین کښی

یو ډول قانون جاری دی او دهندوستان قانون بیاعلیحده دی، ځینی دولتونه تقریبا دوه سوه کاله دبل په لاس کښې ؤ او هغه دولت کوښښ کوی چه خپل قوانین په هغه ځای کښې وچلوی، څوچه زورئی در لود، پردی قانون جبراً چلوی، خو کله چه خپلواك شو نوهلته پر دی قانون نه چلیږی بلکه د خپل هیواد در وحیاتو، افکارو، عنعناتو او تقاضا، خواهش اوضرورت سره سم هغه قانون پکښې چلول کیږی.

داجتماعیاتو ځینی پوهان وائی چه تر څو یوې تولنې ته سم او دعدالت او مساواتو له مخې قانون جوړ نشی ممکنه نه ده چه یوه تولنه دی پرمخ لاړه شی او دنیك مرغۍ او لوړ تیا مخ دی ووینی، دا ځکه د دوی په عقیده د تولو بد بختیو، ترشا پاته کیدو، پریشانیو او ناآرامیولوی سبب غیر عادلانه اوهغه قوانین دی چه دخلکو تر منځ امتیاز پیدا کوی، دغه کسان داجایز بولی چه یوه ترشا پاته تولنه دنورو هیوادو داساسی قوانینو څخه ترجمه اویااقتباس وکړی او دپردو له قوانینو څخه خپل ځان ته ښه او عادلانه قانون جوړ کړی، مگربله ډله اجتماعی پوهان دپورته نظریې مخالف دی او وائی چه یوه تولنه هغه وخت ښه ژوند او ترقی کولای شی چه ځان ته پخپل خواهش، ضرورت، تقاضاد خپلوافکارو، نظریاتو، اخلاقو، دین او عنعناتو له مخې قانون جوړ کړی نه دا چه کټ مټ د پردوقانون ترجمه اویا اقتباس کړی، دقانون ښه والی پدې کښې دی چه ښه وچلیږی، کوم قانون چه نه چلول کیږی که هغه هر څومره لوړ اوښه وی، هغه به تش پر پا نو نقش وی او عملی جنبه به نلری.

بشری تولنې تل خپل پلاس جوړ شوی قانون خوښوی اود خپلی خوښی سره سم پرهمدغه لار هم ځی. یعنی کوم قانون چه پخپله ئی جوړ کړ یدی همهغه پر ځانو باندی چلول غواړی. دغه ډله پدې عقیده دی چه دتولنې دارتقااو نیك مرغۍ دپاره ترټولو لوړ مخه پوهنه اورو زنه پکار ده، هروخت چه یوه تولنه پخپلو عیبو اوناوړو خو یوو پوهیږی، خپل حقوق وپیژنی، اجتماعی حس اود همدردی فکر پیدا کړی او تولنې ته دخدمت او دخپل هیواد دودانولو په لاره کښې دایثاراو فداکاری انسانی حس په ځان کښې تقویه کړی هغه وخت نو دغه راز تولنه کرار کرار دارتقا او تمدن خواته ځی، اوهم دغه تولنه دخپل ځان دپاره دخپلې تقاضا اواړ تیا له مخې دمحیط، دین، زمان، مکان اود عصر دا یجابا تو سره سم بهترین قانون جوړ وی چه هغه ئی هم خوښ وی اوهم پر هغه هیواد کښې عملی کیدای شی نود پور ته خبرو څخه په تینگه څر گنده شوه چه مثلا پښتون هیڅکله دپر دوقانون نشی منلای او تل خپل پښتنی قانون، خپل اخلاق اوپښتو نواله خوښوی اوپر هغه لارتگ کوی، پداسی حال کښې چه هر ملت خپل قانون خوښوی، دغه رنگه هره بیله تولنه خپل ځان ته بیل

قانون جوړ وی اوپر هغه ځی،
دغه سبب دی چه استعماری
قانون هر ځای منفور او متروك
گرزی او په مجرد ددی چه
یوه ټولنه خپلوا که شی بیا هغه
زوړ استعماری قانون ته
شاو گرزوی او خپل سعادت
اوخوشحالی پدې کښی گڼی
چه ځانته خپل قانون جوړ کړی
او هغه په خپل هیواد کښی
وچلوی، هر کله چه اقوام
اوملتونه دی اندازې ته
راورسیدل او په ډیرو خلکو
کښی ئې د احس پیدا شو چه
خپل ځان ته قانون جوړ کړی
اوهم پدغه اقدام کښی ئې
بری وگاټه نودد غو وروستنیو
پوهانو په نظر یه دغسی ټولنی
خپل رشد او تکامل ته خامخا
رسېږی او هم ئی لوړ مادی او معنوی پرمختگ په برخه شی
او په ژوندانه کښې به ترشارانشی بلکه ډیر به پرمخ ولاړ شی.

دادی گلونه

ښاغلی لونگین

ښی دی

که داشناشو نډې خوږې دی ښې دی
که ئې بالښت لېچې پستې دی ښې دی
چه په تومت ئې لېو نی شو ه مینه
که په ماشپې ورځې درنې دی ښې دی
مالیو نی وربا ندې کلك وتړی
زلفې ئې عطرو کښې لمدې دی ښی دی
دژو ندانه فلسفه هسې ښائی
څه عجیبه غوندې پردې دی ښې دی
مدهوش نظر ئې زمانې وښو دی
شونډې ئې دواړه می خورې دی ښې دی

نن ئې رقیب ته زما مخکښې ویل
د «لونگین» سره مې شپې دی ښې دی

ښاغلی عبدالله بختانی

د خدای خلیفه

د بشر د آبادۍ ځنی پخوا
په قرنو قرنو ودانه وه دنیا

اسمانونه وو هم لمراوهم سپوږمۍ وه — رڼې ورځې وې هم توره ترږمۍ وه
دجمال د مناظرو ننداري وې — د جلال د مظاهرو منظرې وې
مخ دزمکې به ښایسته و په ګلونو — دریابونه په مستۍ وو له موجونو
دسهارغوټۍ نسیم ته به خندلای — خوڅوك نه ؤچه ئې دې حال ته کتلای
هم ګلونه هم بورا هم بلبلان وو — تازګی وه خوباغونه بی باغوان وو
دډیوې د سوزېدو په انتظار کښی — پتنګ ناست وپه سوداسترګی په لار کښی
منتظر و، چه تاو ده شی محفلونه — عشق دحسن له جلو وکړی طوافونه
نودزمکی توروخاورو او اوبونه — له لوړ غرونو اودرو او دریابونه
له هوا او نباتاتو جماداتو — مختلفو عناصرو او ذراتو
اراده شوه په ترکیب د یو معجون — دخالق د حکمتو په نندارتون
دمادې سره همغاړه ئی معنا کړه — توره خاوره ئی معنا سره رڼا کړه
بیا ئی وګانه لایق دخلافت — ددې زمکې دشاهۍ او ریاست
خوچاووې چه دی ډك دی له فساده — مادیت ور سره مل دی له بنیاده
دده کار به وی دوینی تویول — د ډوډۍ په سر د یواو بل وژل
بیا به هرڅه کړی له ګېډې نه قربان — نو به څرنګه واکدار شی د جهان
رب وې تاسونه زه پوه یم پخپل کار — سودامه کوی ء په دغه سمه لار

بیا لباس ئی دهستۍ کړور په غاړه
وې ملکوته سجدې کړی ء ورته واړه

نودخیر ملکو ښکته کړل سرونه — د نمانځنې ئی په ځای شول تعظیمونه
یوشریر عنصر چه بولو ئی شیطان — ابا وکړه وئی نه مانه فرمان
هیڅ ئی ونه کړ عزت او اطاعت — غږئې پورته کړ درشك اوعداوت
مخالف عنصر رقیب د فضیلت شو — سړیتوب په لار کښی دالوی مصیبت شو
انسان ننوت جنت ته په اکرام — هلته وکړ یو څو ورځی ښه ارام

دادخدای له لوری ښه مهربانی وه خو گمان کړم دڅوورځومهمانی وه
هلته هیڅ دزندگۍ نه وو کارونه نه سودا نه اند ېښنې وې نه غمونه
دسکون او ارامۍ چو په دنیا وه دعیشونو او سیلونو سینما وه
نه دگېډې څه سودا او نه وسواس ؤ نه څه غم د معیشت نه د لباس ؤ
یو دعیش او دنشاط زندگانی وه خوشالی وه، کلاری وه، ارامی وه

څوك چه کار مخکښی لری عیشو نه نه کړی
څوك چه لار مخکښی لری خو بو نه نه کړی

دجنت دسرو گلونو په گلشن کښې دراحت او فرحتونو په وطن کښې
دارزو واگې له لاسه ئې بهر شو په تسکین دخواهشاتو باندې سر شو
دلمسون په رنگینیو غولېدلی دقانون تر سرحدونو تېرېدلی
دخلقت په ډرامه کښې لوبېدلی دحیات په افسانه کښې پرزېدلی
ډېر سپېڅلی او ساده ؤ په فطرت کښی ځان ئې تور کړلو په رنگ دمعصیت کښی
ارامۍ ته مخه ښه کړه سمدلاسه گویا کوز شو توري خاورې ته له پاسه
ورسره د شر عنصر شو لو همغاړه تر قیامته به لو بېږی دغه دواړه

* * *

ای عاقله فکر وکړه په مثال کښې لږ څه ځیر شه په کارو دذوالجلال کښې
دانسان په خاورو خټو او فطرت کښې دخالق په کارنامو او په قدرت کښې
هم دفرد او جامعې په ارتباط کښې د قدرت د قوانینو انضباط کښې
چه بشر له موره زېږی بې خبر وی څوك پوه نه وی چه به خیر وی که به شر وی
دالفت او محبت غېږ کښې لوئېږی نه پوهېږی ورځی شپې څنگه تېرېږی
چه پیدا ئې دخوراك څه اشتها شی د مورتی ورته په خوله کښې مهیا شی
غېږ د میندو جنت ځکه بلل کیږی د شو دوو یا له همدغلته بهېږی
چه څه غټ شی د ماشوم په نوم یاد ېږی دمعصومو له ټولگی سره لو بېږی
غم نه پېژنی خو ښۍ سره ئې کار وی ته به وائی چه جنت کښې ئې روزگار وی
کوم ساعت چه بلوغت ته ورسېږی دشیطان په لمسه هر ساعت غولیږی
نه هغه معصوم انسان نه ئی جنت وی سرو کار ئی له گناه او معصیت وی
څو چه پوخ شی بیا نو پوه شی په کارونو تو بې و باسی له ټولو گناهونو
بیا دخدای دخلافت په ادارو کښې دخپل توان سره شامل شی په کارو کښی

هم دځان دپاره کار کړی هم انسان ته هم ئې کورته خیر رسیږی هم جهان ته

* * *

دا د فرد د سوا نحو سلسله ده جامعې د پاره عین مسئله ده
د خلقت په ابتدا او انتها کښې د تاریخ په پرونی او نن سبا کښې
دا قیصی او قسالې او سلسلې دی گومان مه کړه چه دا خوشی مسئلی دی
د بشر ماشوم لوئیږی با لغیږی بیا درشد او د کمال حد ته رسیږی
بیا ضعیف شی دا دوره دا نحطاط وی نه ئې فکر او حرکت نه څه نشاط وی
نو بیا مړشی چه وتلی وی له کار نه د بر وی ستړی زمانې او له روزگار نه
څوك چه مړشو په هغه باندې قیامت وی څه فرق نه لری که فردا و که ملت وی

* * *

دا انسان د تحول په سلسلو کښې
دژوندون د پسرلو په اوښتو کښې

دارزو په ناتمامه اضطراب کښې دامید په ناقلاره لوی دریاب کښې
دارمان په بې ساحله سمندر کښې د طلب په نامعلوم غوندې گودر کښې
د هیلو په بې سار و انو قافلو کښې د تپش په بې کاروانو منزلو کښې
د شعور په بلا کیفه ارادو کښې د ضمیر په نا بللې عاطفه کښې
د حیات په دې رنگینه ډرامه کښې دا نسان دغه د لچسپه افسانه کښې
د عبرت ډېرې صحنې دی څه هو ښیارشه دژوندون له کشمکش نه خبردار شه
انسان غواړی چه دنیا نه جوړ گلشن کړی د جنت غوندی ښایسته داخپل وطن کړی
خود گېډې په سودا کښې چه اسیر شی د خپل ځان په اندیښنو کښې بوځل گیر شی
د تعمیر په ځای تخریب ته هو سیږی د ژوندون په سمه لاره کښې ښوئیږی
زور د حق په ستونی خیژی چه بربادشی حق مغلوب شی او غالب پرې استبداد شی
چه حق وائی هغه خلك خوار وزار شی چه حق غواړی نو دهغه نصیب خوار شی
د مظلوم غوښې په اور باندی کباب شی د غریب وینې ظالم ته سره شراب شی
دا د ظلم په تور تم او په تیارو کښې د انسان د زخمی زړه په ترارو کښې
د بدبخت انسان له خاوری او خمیر نه دا غبرخیژی له اعماقو د ضمیر نه
«انسانان دی یو تړ بله سره و رونه څله ساتیء دا کینی او نفرتونه
راشیء راشیء چه و دان کړو دا جهان پکښې و روزو د مینې سره گلان

د جمال او د کمال په نندارو کښې — د وحدت او محبت په اشارو کښې
د ایثار او د خدمت په احساساتو — د انسان د شرافت په جذباتو
یو دبل د ښمنۍ پرېږدو مینان شوو — له عظمت او سړیتوب سره انسان شوو
په یورپ کښې کوزنی که پاسنی دی — که روسی دی که چینی، امریکنی دی
که هندی دی که مصری دی که ایران — که عرب دی که مغول دی که افغان
او که نور دی د وروری په اساساتو — د دوستۍ روا داری په رموزاتو
سره ټینګ کړو عدالت او مساوات — د پیرزو په سیاست کړو اجراآت
د انسان په نوم جهان لره معمار شوو — بې له حرصه خپل ګشلن لره مالیار شوو
سړیتوب سره د مینی فیصله کړو — حرص و آز سره پوره مجادله کړو
حریصان به ترقیا مته محرومېږی — د انسان بېړۍ له دې بلا غرقېږی
د جهان په دې ظلمونو او جبرونو — یو په بل په دې نادو دو یرغلونو
بندګۍ د سرمایی او د دولت کښې — دې فریب او چل او ول د سیاست کښې
د بشر د سعادت زېری حرام دی — انسانی فطرت له دې غمه سرسام دی»
د سبا نسیم خوره د اهنګامه کړی — دا د ژوند نغمه بدله زمانه کړی
د حیات د دریا بونو له ژورې — اخر اوزی ښې روښانې مرغلرې
د غه راز د تجدد او انقلاب دی — د انسان د خلافت داسې حساب دی

* * *

تحول په ژوندانه کښې ارتقاده — محبت د سړیتوب د زړه رنماده
محبت سره د نیا مومی نظام — خلافت کښې د غه روح دی والسلام

* * *

د اسلام د بختانی په هغه چاوی — چه د صلحې او سلام په تمناوی

ننګرهار ـ د ۱۳۳۵ د حوت ۱۰

د یوه پردیس قریب په یاد.

ته تلې

ته تلې او په لوی سفر .....

تلې دغم او درد دجهان څخه.....

دهغه جهان څخه چه هلته غمونه وو مگر د غمونو د تسل خاوندان ډیر لږ ....

دهغه جهان څخه چه هلته خوښی وه خود ډیرو پربل پېرز و ینه خورا لږ ....

ته تلې او په یقین سره ....

ستا په اراده کښې تذبذب نه لیده کېده تلې او په لوی عزم ....

تا دسفر کومه توښه هم له ځان سره نه وړه ځکه هلته د «ډېر او لږ» تشویش نه تصور کیده تلې او د ډېر لږ انتظار نه وروسته ....

ستا دغه انتظار د کومی توښی دپاره نه و، دغه انتظار د کوم ملگری دپاره نه و، بلکه دڅو څا څکو اوښکو تویولو دپاره ؤ او دڅو پر دیسو قریبانو دورستۍ لیدنی او کتنی دپاره ....

هو ! همدغه هیله له تا سره ون او د ډېری لږی مودې دپاره .

مگر دا هیله او امید هم دجهان دنورو خوښیو په شان لتانه بېگانه شوی وو - دهمدغی هیلی او امید ارمان هم دجهان دنورو غمونو په څیر بې تسله ثابت شو.

ته تلې او ډیر ژر....

وتا ته دڅو اوښکو قیمت په همدغه وخت کښې دنابودی د ډېر وذی قیمتو مرغلرو په شان نایابه وو.

ځکه ستا نوم د هستۍ په صفحه کښې «پردیس» لیکل شوی و.... او هغه پردیس چه د ژوند د ورو ستیو گړیو دپاره دقریبانو دڅو اوښکو تویولو په انتظار یوه گړی مایوسانه هره خواو گوری.

تاو کتل او په یوه عالم مایوسۍ سره ....

ستا دا مایوسی د جهان دنورو بې نیازیو علاوه د څو اوښکو د پاره هم وه ته تلې او د څو اوښکو تویولو په ارمان.

- اې د همدې جهان ارمان جن پردیس مخلوقه .

نوې - نوې همدغه اوښکی او ته په همدغه ارمان تلې !

ژواک

ښاغلی نور محمد تره کی

زوږه جوړه شوه!

خمټ یو با حرارته او فعال هلکی معلوٌ میږی متشبث دی په هرشی کښی دقت کوی. مورؤ پلار ئې اله او جله ودریده اولکه ډیر نور کهولونه دخپل کلی نه د نیستۍ له کبله په کډه کیدو مجبور شول او فکرئی وکړچه دا سی ځای ته لاړشی چه هلته بزگری اویا بله خواری ورمونده شی اوپه دې توگه له ژوند سره که څه هم په خورا ضعیف صورت سره وی مجادله وکړی. ده یو مرکب دکال په وعده له یوچا څخه په پورواخیست چه قیمت ئې د پور په لحاظ له معموله سره سم خورا اوچت و، اوپر دې مرکب باندی ئې خپله کډه چه یوزوړ نمڅی دوه زاړه تلتکان اویوه دلرگی کاسه اویوه بدنۍ وه اوهم دوه کوچنی ماشومان را بار کړل. لومړی تر هغه چه کډه وکړی خپله یوه خونه ئې وهغه پور وړی ته ورکړه کوم چه د کډی په وخت کښی دده مرکب ترغاړه ونیو او د څلورو منووړو چه په پورئی ورکړی و، مطالبه ځنی وکړه.

په بیړه ئې له خپله کلی اوپوروړو څخه سترگی رانها می کړی او یوې بلی منطقی ته راروان شو، په لاره ئی دا لنډۍ ویله: (عمر می ټول په غم کښی تیر کړ — خاونده خدایه بی غمی به کله وینه). کوم وخت چه به مرکب په لوړه خوت نو له هغه سره د کمك کولو په نیت به ئې کوچنیان ده او ماینی په خپلو اوږ واخستل او پر دې توگه به ئې د خره پیټی ور سپك کړ.

دوی یوه شپه په لاری وکړه او بله ورځ مازیگر یوه کلی ته چه د دوی په نظر کښی و، راور سیدل. ددې کلی تعریف دوی ډیر اوریدلی و او هرچا به ویل چه هلته بزگری پیدا کیږی او دیوه خوار کاله شپه پگښی تیریږی خو په تېره بیا دهغه کلی د ملك مځکی خورا مشهورې او ډیری وی او هرچا به ویل چه هغه بزگرو ته احتیاج لری. خود دوی له بده بخته دهغه احتیاج پوره شوی و.

میړه ئې د یوه بل ځای نوم ورواخیست چه هلته به لاړ شی او په پسرلی به یوڅه للمی وکری گوندی یوه گوله ډوډۍ د یو څو شپو د پاره خپلو کوچنیانو ته ور برابره کړی. دماینی ئې په دی رضا نه وه ځکه چه دوی هیڅ وسیله ددې دپاره نه درلوده چه د خپل ځان دپاره للمی وکری نو ئې میړه ته متل تیر کړچه: «زما لاس ئې کدنی، کوم دی هل کومدی غوئی؟»

دده ماینه دملك کره ورغله او دهغې ماینی ته ئی وویل چه مزدوره ئی کړی. او میړه ؤ ماینه ئې دواړه ملك سره مزدوران شول خمټ د خپلو ښو حرکتو په وجه د هرچا توجه جلبوله او د ماجت ملاته

ورغلی چه هم سبق ورته وائی
اوهم دیوه چړی کار ځنی واخلی
اوپه دې توګه هم نس واروی
اوهم یوڅه زده کړی . خمت
په لږ موده کښې لوستی شو
اوځنی کتابونه ئې وویل او
هغه کلی ئې د ځان د پاره تنګ
احساس کړاو یوه ښارته راغی
چه هلته ئې دیوه ښه سړی به
مرسته یو څوکاله مکتب هم
ولوست .

خمت دناداری او نیستۍ
له کبله نور مکتب نه دوام
ورنکړ او په یوه اداره کښې
ئې په کار کولو پیل وکړاو
دیو څو کلو نوپه موده کښې
ئې احساس کړه چه دلته چندانی
پیشرفت نشی کولای او ښه داده
چه اطرافونه لاړ شی او هلته
د کوم بدای د کوچنیانو خصوصی
معلمی ځان ته پیدا کړی او
په دی توګه خپل مورڅ پلار
چه اوس نوزاړه شوی دی
وساتی او هغوی نوکی هوسا
کړی .

خمت پرخپل دې فکر باندی
عمل وکړاو وروسته ترا ستعفا
کولو ئې ځانته په اطرافو
کښې معلمی وموندله او د کال
په (٦٠) منه غنمو، نوکر شو .
د امقدار غنم ئې مور څ پلار
په خپل ټول عمر کښې نه څلیدلی
اوپه دې چه دوی د دغونه مقدار
غنمو څښتنان شول خوشالۍ ئې
کولې اوپه خورا ښه زړه ئې
بیرته کډه خپل کلی ته راوستله
اوهیله ئې درلوده چه اوس
نو دیوه آرام ژوند څښتن شی
خمت چه په کوم دفتر کښې
کار کاوه له هغه ځای نه ئې
یو څه پیسې پیشکی اخستی
وی چه له هغی جملې نه ئې یو
څه ورسولی وی اوپه وخه
لاپریاته وی نومربوطی څانګی
د ده مرجع ته مکتوب ولیکه
چه د اپیسې ترې حصول کړی
چه دا مکتوب په سلسله د ده
علاقې ته روار سید البته په
هغه مکتوب کښې د څلورپنځو
مربوطو دایرواوو ندرتو نمرې
ثبت شوی وې.

د علاقه داری کاتب چه
نوی مقرر شوی ؤ له عادت نه
خلاف داتولی نمرې ئې په جلب
کښې توضیح کړی او هغه ئې
د خمت کلی ته د ده د اطلاع
د پاره واستاوه چه د باقی په
تحویلولو کښې توجه وکړی.
د دې کلی ټول لوست اولیک
لکه د نورو کلو په شان د کلی
ملاصاحب کوی اوهرخط چه
له کلی نه ځی هغه لیکی او هر
یو چه بیا راځی هغه لولی نو
طبعاً دا جلب ئې ملا صاحب
ته ورور چه وې لولی .

هغه داتولی نمری چه په جلب
کښې توضیح شوی وی یو په بل
پسی وتړلې اوپه داسی حال
کښې چه د خمت سپین سری مور
هم ناسته وه په خورا غمجن
اونیولی زغ ئې د خمت مورته
وویل : « کورخودی خراب شو
نه یوازی ستا کور خراب شو
بلکه ټول کلی ورک شو ! »
بیا له ځانه سره وائی: « یکن، دهن
صدآهزاراً ، ده هزاراً ، لکاً
ده لکاً ، کروړاً ، ده کروړاً
ارباً ، ده ارباً پوهو - دا خو
تر حساب لاتیرې شوې. » خمت
مرغی ماتی خوپه اربواو کروړو
روپۍ د دولت پوروری اوباقی
دی اودائی خط پسی رالیږلی
دی چه ژر دا روپۍ تحویل کړی
اوس به څه کووچاره څه ده ! »

سپین سری چه دا خبری واوریدی
سمدلاسه بېخوده شوه وروسته ترهغه
ئې په ساندو خوله پوری کړه چه
د کلی اکثره خلك ئې پرځان
راټول کړل او هرڅوك په خورا
اضطراب سره پوښتنه کوی
په پای کښی دې د ملا صاحب
خبره دوی ته وکړه او څو نورو
سپین سرو ښځو هم په ژړا خوله
پوری کړه . په ټول کلی کښی
یوه لویه هنګامه او زوزه جوړه
شوه د کلی نورو خلکو چه دا
آوازه واوریده هغوی په ډېر
اضطراب کښی شول چه اوس
به ددې کروړو روپو ځواب څه
وائی . ځنو خلکو ددې دپاره
چه ژرله دې خطره ځانونه
وژغوری او سترګی نهامی کړی
په کډو بارولو پیل وکړ او ځنو
دخرو رانیو لو ته هڅه وکړه
چه هغوی هم ژر کډی پرې
بار کړی چه په دې صورت
د بو دګانو قیمت هم خورا
لوړ لاړ کوچنیان چه وښځو ته
وګوری هغه هم چیغې وهی او
خورا لویه هنګامه ده او ټول خمټ
ته په ښیرا او ښکنځلو لګیا دی.

ښاغلی واسعی:

خونده وره فلسفه

فلسفه چه یا ده شی سړی ته
ماوراءلماده سوالات ور په زړه
کیږی چه : روح څه شی دی
او حقیقت ئې څه دی له کومه
راغلی دی یا عقل څه شی دی
او څنګه پیدا شویدی، یا دا چه
عامه هستی او وجود څه شی دی ؟
دا ټولی هغه پوښتنی او
موضاعات دی چه د فلسی دز ېږیدلو
او پیدا کېدلو څخه بیا تر اوسه
پوری ئې نه چا یو صحیح جواب
ووایه او که ئې چا پخپل فکر
صحیح جواب ویلی هم وی هغه
بیا خوند نلری او نه چا ته مزه
ورکوی . خو ماوراء الماده
پوښتنی چو په زړه ژپه او پخوانۍ
اصطلاح فلسفه بلل کیږی
بووچ او ستوغ، زموخت او بی
خوند . او په آخر کښی بې
ښې او بې فائدې مضمون
دی چه نه په دین کښی په درد
خوری او نه په دنیا کښی د چا
په کار ورځی هرڅوك چه په
اخته شویدی یو قدم هم پر مخ
ندی تللی او نه ئې له هغې
خوا داسی شی راوړ دی چه
په ژوند او عملی حیات کښی دی
دیوې وړانګی او ذرې شانته
استفاده ځنی وشی، غیرله
تخمینی او ظنی ؤ ګومانی وینا ؤ
یا عندی مسایلو څخه نور څه ئې ندی
ځنی راوړی، (پاته په ۱۷ مخ کښې)

په دې حال کښی یو بل هلك
پیدا شو چه دیوه بل کلی و .
او تازه له مکتب نه درخصتۍ په ډول
راغلی و، هغه چه د دې حال
پوښتنه وکړه نو ماجت ته
ورغی چه هغه جلب وګوری
هلته ګوری چه صرف
۱۵ - افغانۍ د ده باقی ده
او دا صرف د ملا صاحب یوه سهوه
ده چه له هغو نه ئې په کروړو
او اربوروپۍ جوړی کړی دی په دې
توګه ئې ټول کلی له ویرا وغم
نه وژغوره او په ټولو ساننو تله
او خیرا تو نه وشول !!



پورته عکس دابراهیم لودی پښتون پاچا هغه قبر ښئی چه وروسته دده تر وفاته دده تو ریالیو عسکر وجوړ کړی دی

دچراغ قلاد نتو تولو در وازه

پر مخ تللی دی هغو مره ډېر ناکام شوی او په خورا افلاس او تش لاس راګرزېدلی دی خلاصه دا چه فلسفی د فیلسوف عمر ور خاوری کړی نه پخپله دی په څه پوهېدلې دی او نه ئی نورو ته څه راوړی، یا داسی څه ویل له لاسه شویدی چه هغه دې حقایق او د اصلی واقع سره څوك مطابق وبللای شی.

خو په هر ډول د فلسفی دې بېخوندی اوزمو ختوالی وروستنی فلاسفه هم متأثر کړیدی او دزړې وچې فلسفی څخه ئې بی زاره او پر انکار راوستلی دی چه یو مثال او نمونه ئې ولیم-جېمز (William Jams) امریکائی فیلسوف دی چه په ۱۸٤۲ کښی په نیویارك کښی زېږېدلی او وروسته د خپلو تحصیلاتو تر تکمیل په امریکائی مدارسو کښی د فرانسی مخصوصو علمی مؤسساتو ته ولېږل شو، دې فیلسوف په فرانسه کښی د علم النفس د آثارو سره مینه او علاقه وموندە او په ژوره کتنه ئی مطالعی پکښی وکړی نو ئې خپلو علمی تحقیقاتو مخ هغی خواته وګرزاوه، چه په فرانسه کښی ئې هم تحصیلات تکمیل کړه بېرته خپل وطن امریکا ته راغی، لږ مده وروسته مشهور او دومره ئی نوم خپور شو چه تر ده دمخه هیڅ یوه امریکائی دومره شهرت نه و، موندلی او نه ئې په علمی نړۍ کښې دده په اندازه اوازه خپره شوی وه.

ده په ۱۸۷۰ کښی هارورډ د پوهنتون څخه د ډاکترۍ ډګری واخیسته او پدغه پوهنتون کښی د استاد او مدرس په حیث د تدریس په وظیفه مقرر شو او د ۱۸۷۲ څخه ئې تر ۱۹۱۰ پورې چه د مرګ کال ئې دی دا وظیفه اجرا کړه د دې عالم او فیلسوف لمړی کنفرانس د هارورډ په پوهنتون کښی د تشریح او د وظایف-الاعضاء په شاؤخوا کښی ؤ او دوهم کنفرانس ئې په علم النفس او وروستنی کنفرانس ئی پر فلسفه ایراد کړ، دده تر تولو مهم تألیف چه لمړی اثر ئی هم دغه دی د «علم النفس اصول» په نامه کتاب دی چه د علم النفس تشریح او فلسفی څخه سره ګډ یو خورا ښکلی او خوندور کتاب دی. د دې کتاب په تألیف کښی د ده د دې ترتیب د غوره کولو سبب دا ؤ چه جیمز دا عقیده درلوده چه د علم النفس منبع له ما وراء الطبیعه څخه دی او له هم هغه ځایه څخه ئې الهام اخیستی دی خو وروسته د ماوراء الطبیعه څخه جلا او استقلال ئی وموند.

خو جېمز په آخر کښې یوازې فلسفې ته راغی او خو ښه ئی کړه هر څه آثار او مؤلفات ئی چه وروسته تر ۱۹۰۰ خپاره کړیدی د فلسفی په ډګر او په همدغه چوکاټ کښی دی دده لمړی تألیف په فلسفه کښی «The willto delive» دی چه په ۱۸۹۷ کښی ئې لیکلی دی پدې پسی ئې په ۱۹۰۲ کال کښی د Varieties of Rellgious Expcrience پنامه «د دینی تجربو اقسام» راویوست، او ورپسی ئی په ۱۹۰۷ کښې خپل مشهور کتابونه د «پراګماتیزم» په نظریه کښی او د Aqluralistic universe «یوشمیر کائناتو» پنامه ولیکه او په ۱۹۰۹ کښی ئی The meaningoetruth کتاب

«دحقیقت معنی» نشر او خپور کړ، یو کال تر مرګ وروسته ئې یو کتاب د «فلسفی بعضی مسائل» پنا مه خپور شو، او په ۱۹۱۲ کښی دده بعضی مقالې د «اساسی تجربی لار» په نامه د کتاب په ډول نشر شوې په آخر کښی به د ده د فلسفی په ترڅ کښی د پراګماتیزم نظریه چه د امریکائی فکر تصویر په خورا دقیق صورت څرګندوی وسپڼو:

پراګماتیزم:

فلسفې دمجرد فکر په فضا کښی خورا اوږده زمانه لا مبووې وهلې، او د عملی ژوند پرزغونو ئې چه دنړۍ پر ډګر ئی زوږ اچولی ؤ هیڅ غوږ نه ونیوه، او نه ئی هغه حقیقت ته چه د سر په ستر ګولیدل کېده نظر ورواچاوه، او که ئې ورواچاوه هغه هم خورا لږ او کله کله هر څه مینه چه ئی ښکاره کړه داشیاؤ دحقایقو او ذات وجوهره سره وه، خو هر څه چه پدې مملکت «د اشیاؤ په حقایقو» کښی شاؤخوا او ګرزېده داسی څه ئې لاس ته نه ورغله چه خوله ئی پرې خوږه شی، څو په آخر کښی په تش لاس او وچه خوله او وږی او خالی دماغ ځنی راو ګرزېده د پښتنو خبره «لاس تور مخ په تور» بېرته راغله او دعمل دنیاته ئی لاس ورواچاوه، دعمل په نړۍ کښی تر هری فلسفې امریکائی فلسفی ارت قدم واخست او نظری وچ زموخت او بی نتیجی ابحاثو ته ئی پر مخ منفی جواب ور کړ د خپل فکر واګې ئې نوی خواته راو ګرزولی داشیاؤ په کنه او حقیقت، او د اشیاؤ د مصادر و او منابعو پوښتنه ئی هیڅ نه وکړه، لمړی دهرشی نتیجې او فوری ؤ سمدستی فائدې ته متوجه شو، د هر شی څخه ئی ددې پوښتنی پر ځای چه: «څه شی ئی د کومه راغلی ئی؟» دا پوښتنه وکړه: څه کولای شی، څه فائده رارسولای شی، اثر او اغېزه دی څه ده مړه ولای می شی، پټو ولای می شی، څه را سره کولای شی؟»

(نور بیا)

دښاغلی م، ح، ساپی ترجمه او تتبع

داتحاد شوروی

سوسیالستی جمهوریتونه وبېژنی!

دا یشیا دلو ئې وچی په ټوله شمالی سیمه او د یوروپ دلو ئې وچې په ټوله ختیزه برخه کښې د U.S.S.R «داتحاد شوروی سوسیالستی جمهوریتونه» په نامه یوستر اولوی دولت پروت دی چه دغه دولت د ۱۶ خپلواکو جمهوریتونو په اتحاد او یووالی جوړ شوی دی.

او ۲۲۲۷۰۶۰۰ کیلو متر سطح «چه دغه سطح دامریکا له متحدو مملکتونو څخه دوه کرته پراخه ده» او د ۱۹۳۹م کال د سر شمارۍ له مخی ۱۹۲۰۹۴۷۷۸ نفوس لری دغه ستر دولت په عمومی ډول ددوو شوراؤ له خوا اداره کېږی لکه:

عالی شورا چه اوس ئې مشر مارشال وراشېلوف او د وزیرانو شورا چه مشر ئې اوس مارشال بولګانین دی.

U.S.S.R هوا په عمومی ډول سره اولنده ده خاوره ئې

دکر هنې دپاره شه دهپه تېره
بیا په جنوبی برخه کښې دچرنیزیوم
توره خاوره دد پرې ستا ینی
ورده .د U.S.S.R په
جنوب غربی خوا کښې چه کله کله
دمدیترانی اقلیم احساس کیږی
په هغه ځای کښې هر راز میوې شته
په U.S.S.R کښې د خلکو
دری کامه شته دی لکه :
۱: آ ر یا ئیان ۲: او گر ین
۳: تو ر کمان او تا تا ر او
ز یا تر ه ئې نژا د آ لکه :
چکو سلو ا کیا ' یو لیند ا و
یو گو سلا ویا ' سلا و دی .
دU.S.S.R مهمی اوژوندی
ژبی دا دی : ا و کرا ئنی
بایلو ر و سی — ا و ز بکی
قزا قی — گر جی — ا ر منی
استونی — لیتوانی — مولداوی
' تاتاری — ازربا یجانی ' باشقری
تمر کمنی .
دU.S.S.R زیا تره و گړی
ارتود و کس «دعیسو یت یوه
ځانګه ده» او مسلما نان دی
او ۶۰ زره یهو دان هم پکښې
شته .
په U.S.S.R کښې تعلیم ا و
تر بیه و ر یا ده او لو مړ نی
یو هنی له ا و ه کلنی څخه
په اجباری او حتمی ډول شرو ع
کیږی په ۱۹۵۱م کال کښې
۲۷۲ ۰۰۰۰ زده کو و نکی په
۸۹۰ علمی او تکنیکی مؤ سسو
کښې دلوړو تحصیلاتو دپاره بوخت وو
او په ۱۹۴۰م کال کښې ۹۵۴۰۰
کتابخانی دخلکو دپاره پرانستې
وې او په ۱۹۵۰ م کا ل کښې
له ۷۷۰۰ نه زیاتې ور ځپانی
په ۱۱۹ ژبو خپر یدلی او په
۱۹۴۰م کال کښې ۷۱۰۰ مجلی
په ۴۸ ژبو چاپیدلې او په همدغه
کال کښې ۹۰۸ تیا تر ه او
۹۹۲ موز یمه موجود ؤ او په
۱۹۵۰م کال کښې ئې ۱۷۶۲۰
سینما گا نې لر لې .
بر ته لد ې تو لو نه د مسکو
پو هنتو ن په نړۍ کښې
ساری نلری .
دU.S.S.R اقتصادی سیستم
سوسیالستی « اشترا کی » دی
یعنی هغه ټول طبیعی منا بع
او تولیدی وسایل ' لکه مځکه
کانونه ' فابریکې او نورې لوئې
او وړې کارخانې ددولت یعنی
د ملت د یو وا قعی نما یند ه
په لا س کښې دی .
په U.S.S.R کښې کرهنه
توله په ماشین او ترا کتورونو
سره کیږی او د کر هنې دوه
قسمه تشکیلا ت لر ی لکه :
۱: سوخوز یعنی د ولتی مزرعه
چه په ا نګلیسی ئې ستیټ-
فارم State Farm بولی.
۲: کولخوز یعنی د ټولنی مزرعه
چه په انګلیسی ورته کو لکتیو-
فارم Collecti Ve Farm
وائی دسوخوز یو کار گر په
کا ل کښې ۲۰۰ ورځې مکلف
دی چه کار و کړی .
دU.S.S.R و گړو ته کار
پیدا کول د دولت په غاړه دی
په همدی ډول دو گړو د تعلیم
او تربیې د وسا ئلو ' د کور او
ډوډۍ او نورو بشری او مدنی
ارتیاؤ د برابرولو بوالحنی مسئول
دولت دی . او و گړی به دهغو په
مقابل کښې یو الحې ۸ ساعته د روځی
هغه هم په هغه ځای کښې چه
دوی ورسره علاقه او سا بقه
لری کار کوی .
دU.S.S.R په اوسنی
اقتصا دی سیستم کښې چه
سو سیا لیزم نو میږی هر څوك
دخپل کار اولیاقت په اساس

اعاشه او اباته کیږی. دغه اوسنی اقتصادی رژیم د کمونیزم «اشتراکیت» مقدمه ده چه پدغه رژیم کښې بیا هرڅوك د خپل لیاقت او اړتیاؤ له مخې اعاشه او اباته کیږی.

په U.S.S.R. کښې یو حزبی سیستم چلیږی او یو حزب لری چه په ۱۹۵۰ م کال کښې ئې ۱۲ ملیونه غړی لرل دغه حزب زیار باسی چه په U.S.S.R کښې د سوشیالیزم ترسیوری لاندې د کمونیزم دپاره زمینه مساعده کړی.

اوس د دغه حزب لومړی منشی خروسچیف نومیږی.

د U.S.S.R دومره ژر او په بیړه پرمختګ د هغو د پنځه کلنی پلانونو نتیجه ده کوم چه لومړی پنځه کلن پلان ئې ۲۹ کاله پخوا په ۱۹۲۸ م کال کښې شروع شو او ترنن ورځې پورې ئې تقریباً پنځه، پنځه کلن پلانونه عملی کړیدی.

د U.S.S.R طبیعی منابع لاتر اوسه ټول څه چه حتی له لسو برخونه درې برخې هم ندې په کار اچول شوی او د زیاتې او ډېرې اوږدې مودی دپاره د صنعتی کېدو پوره حوصله لری، سره لدې اوس هم د غنمو په استحصال کښې په دنیا کښې لومړۍ درجه اخلی.

په همدې ډول په وربشو کښې او له درجه، د کتان په تارو کښې او له درجه په جودرو کښې او له درجه، په شادانه کښې او له درجه، په تورو وربشو کښې دوهمه درجه، د کتان په دانو کښې دوهمه درجه په لرګیو کښې دوهمه درجه په اوسپنه کښې دوهمه درجه په برېښنا کښې دوهمه درجه په پټرولو کښې دریمه درجه د ډبرې په سکرو کښې دریمه درجه په پنبه کښې دریمه درجه په وریښمنو کښې څلورمه درجه او په وړیو کښې په څلورمه درجه کښې راځی.

سونډ او ربړ په مصنوعی ډول لاس ته راوړی، وریجې زدن، جوار لا دومره نه دی او د نورو فلزاتو احصائیه ئې لاتر اوسه لاس ته نده راغلې.

د U.S.S.R د حمل نقل ډېره زیاته برخه تقریباً په سلو کښې نوی درېلونو په ذریعه کیږی د سائبیریا د ریل خط چه لس زره کیلومتره اوږد والی لری دو ګړو په خپرولو او د مملکت په مواصلاتو کښې ډېر اهمیت او زیات شهرت لری او د اوږد والی له کبله هم دنیا کښې او له درجه ګڼل کیږی.

په U.S.S.R کښې د فقر او ناروغۍ سره د سختی مجادلې او دژوندانه د لوړې سطحې د لرلو له کبله تولدات زیات او وفیات لږ دی پدې ډول چه تولیدات په زرو کښې ۲۷ او وفیات په زرو کښې ۱۳ دی نو په داسی حال کښې د U.S.S.R نفوس په هر کال کښې درې ملیونه نور زیاتیږی.

د U.S.S.R وګړی په سلو کښې ۴۵ تنه له شل کلنۍ نه ښکته دی. حال دا چه دغه تناسب فرانسه کښې په سلو کښې (۳۰) او په المان کښې ۳۲ ښودل شوی دی چه پدې صورت کښې د U.S.S.R ملت په دنیا کښې یو زلمی او ځوان ملت دی.

د U.S.S.R. جمهوریتونه پدې ډول دی:

۱: R.S.F.S.R یعنی دروسیی
شوروی فدرالی سوسیالستی
جمهوریت چه مرکز ئې مسکو
دی او ۱۰۹۲۷۹۰۰ نفوس لری
۲: یوکرائن مرکز ئې کیو
دنفوس شمېر ئې (۳۸۵۰۰۰۰۰)
۳: بائلوروسیه مرکز ئې
منسک، نفوس ئې (۱۰۴۰۰۰۰۰)
۴: آزربایجان مرکز ئې
باکو، نفوس ئې ۳۲۰۹۷۲۷
۵: جیورجیا مرکز ئې
تفلیس، نفوس ئې ۳۵۴۲۲۸۹
۶: ارمنیا، مرکز ئې ایریوان
نفوس ئې ۱۲۸۱۵۹۹
۷: ترکمن، مرکز ئې عشق آباد
نفوس ئې ۱۲۵۳۹۸۵
۸: اوزبک مرکز ئې تاشکند
نفوس ئې ۶۲۸۲۴۴۶
۹: تاجیک، مرکز ئې ستالین آباد
نفوس ئې ۱۴۸۵۰۹۱
۱۰: قزاق مرکز ئې الماآتا
نفوس ئې ۶۱۴۵۹۳۷
۱۱: قرغز، مرکز ئې فرونز
نفوس ئې ۱۴۵۹۳۰۱
۱۲: کاریلو- فینش، مرکز ئې
پتروزاوډسک نفوس ئې ۶۰۶۳۳۳
۱۳: مولداوی، مرکز ئې
کیشینیو، نفوس ئې ۲۷۰۰۰۰۰
۱۴: اېستونیا، مرکز ئې تالین
نفوس ئې ۱۱۲۰۰۰۰
۱: لیتویا، مرکز ئې ریګا
نفوس ئې ۱۹۵۰۰۰۰
۱۶: لیتونیا، مرکز ئې ویلنوس
نفوس ئې ۲۸۷۹۰۷۰
داو، د U.S.S.R ۱۶ جمهوریتونه
چه په پورته ډول ذکر شول، دغه
هر جمهوریت پخپلو داخلی او
خارجی چارو کښې آزاد او
خپلواک دی او کولی شی چه
خپل دیپلوماسی روابط راساً
دنورو دولتو سره تینګ کړی او
یا دملګرو ملتو موسسی ته خپل
نماینده واستوی لکه څرنګه چه
دروسیې فدرالی جمهوریت او
دیوکراین او سپینې روسیی
جمهوریتونو خپل نماینده ګان
U.N ته استولی دی.

نوټ: د U.S.S.R په پیژندګلۍ
کښې له ډیر اختصار څخه کار
اخستل شوی دی او کومی احصائیی
چه دلته ښودلی شوی دی هغه
د ۱۹۴۵م کال نه تر ۱۹۵۲م کال
پوری اړه لری. او د اخو محکه
چه نوی احصائیې له بده مرغه
زمونږ لاس ته را نغلې.

دنوی ډیلی نه را رسیدلی لیک

وروسته له القابو...

ستاسود ۸۰۳ / ۱۸۳۶ نمبر
مکتوب په ځواب کښې مایو
شخصی لیک تاسو ته در استولی ؤ
او اوس دخپل لوزسره سم هغه
عکسونه در لیږم کوم چه ستاسو
په وینا ما دلودی پاچهانو دهدیرو
نه اخستی دی.

ما ته افسوس دی چه لاتراوسه
زه بریالی شوی نه یم چه ددې پښتنو
مشرانو تصویرونه پیدا کړم او
البته د کوښښ نه می لا لاس نه دی
اخستی.

په دی لار کښې دډیل وجه څه
خوما اول هم عرض کړې وه چه
سکندر لودی خو با لکل زما
د کور په خوا کښې په لودی باغ
کښې خښ دی ولی بهلول لودی
ډیلی نه کافی با هر په یو
کلی کښې پروت دی
او ابراهیم لودی په پانی پت
پنجاب کښې په یو ابدی خوب
ویده دی- په دې وجه څه نه څه
ډیل راغی -

ما دا کوښښ کړی دی
چه یوازی دقبر عکس نه وی

بلکه هغه خوا وشا اوچاپیر یال دی هم په عکس کښې راشی په کوم کښې چه دا ودانۍ چوړی دی-بل ماد اهم غوښتل چه دپښتنو دودانۍ د ډول او آرټ څه نه څه نمایندگی هم ور کښې وشی کوم چه د یو ملت د تاریخی او کلچری میراث لو یه سرمایه او پنگه گڼل شی.

زه ددې موقع نه فایده اوچتوم او یو پیشنهاد تاسو ته وړاندی کوم:

زما په خیال پښتنو په افغانستان کښې دنا مساعد او گډوډو خیالاتو او تېر شو و انقلاباتو په وجه دخپل کلچری سرمایی څه زیاته خسمانه کړی نه ده، البته دهغوی دارټ تمدن او کلچر سرمایه په خارج او خصوصا په هندوستان کښې لا تر اوسه څه نه څه محفوظه پاته ده- د تاریخ او ملیت د تسلسل او د کلچر او مدنیت دپالنی په خاطر مونږ له لازم دی چه ددې باقاعده فلم واخلو او دیو موزون او روانی تبصری (RunningcOmmunitY)

(روانه ټولنه) سره د اخپل Archive د (اسنادو ثبت) کښې وساتو او خپل موجوده نسل د مکتب ما شومانو او په خارج کښې هم د نیاته وښیو، چونکه پښتو ټولنه اوس د پوهنی وزارت سره تړلې شوې ده داخرڅ ستاسو داهتمام لاندی دپوهنی وزارت ته اوچتول په کار دی په دی باندی چه کوم خرڅ راځی هغه زه در ایکم:

۱-۳۵ ملی میټره (M / M ۳۵) فلم تور سپین سره د خبرو: پنځه روپۍ.

ددې کاپۍ (۵۰۰) فټه (قریباً) هره یوه: ۲۵۰ روپۍ د فلم دتگ او چلیدو اندازه (۱۰۰۰) فټه - ۱۵ دقیقی

۲-(۱۶) ملی میټره (M / M ۱۶) فلم غلی رنگه فټ- دوه روپۍ

۱۶-ملی میټره (M / M ۱۶) فلم خبر لوڅ رنگه فټ-شپږ روپۍ (په دې شرط چه د «۴۰۰» فټونه کم نه وی)

ددې کاپۍ (غلی فلم رنگه) فټ -یوه روپۍ دوې انې، ددې کاپۍ (خبر لوڅ فلم رنگه) معلوم نه دی البته درك به ئې وکړم (M / M ۱۶) فلم (۱۰۰) فوټه په قریباً ۴ منټه چلیږی.

یعنی (۴۰۰) فټه په قریباً (۱۵) منټه کښې چلیږی زما په خیال M-M ۱۶ فلم موزون او کم خرڅه دی او دډیلی او پنجاب تاریخی ځایونه مونږ په قریباً ۴۰۰ یا ۶۰۰ فټه کښې ځایولی شو البته په دی پیسو د موټر خرڅ به لږ راشی ولی که سفارت خپل موټر راکړی نو داخرڅ هم د منځه وځی.

داددې دپاره چه زما تگ ور سره زما په خیال ضروری دی چه مونږ څه اخستل غواړو؛ او د کوم نکته نظر نه کنه نو فوتو گرافر به خپل خرڅ پخپله کوی. البته که د سوریا نو یا نورو پښتنو د تاریخی کارنامو ځایو ته په بهار او بنگال کښې فلم کول وی نو به دفوتو گرافر یا دهغه چه ستاسو له خوا وټاکل شی خرڅ ستاسو د طرفه وی دلو دیانو دفوتو گانو د کجه فلم (NEGATIVE) ټول خرڅ (۸۵) روپۍ را غلی دی او دازه دجدا بل په صورت

کښې درلیږم په دې کښې هغه خرڅ البته نشته کوم چه په موټرچراغ کلی ته یاپانی پټ پنجاب ته په تګ شوی دی یا خرڅ او خوراک پرلګیدلی دی (ما فوټو ګرافر ددې ځایه د ځان سره بیولی و،) د دې میلونو زه البته حساب در کوم سره ددې چه داخرڅ زما له لوری یو پیشکش ومنی ء یعنی زه داخرڅ ستاسو نه نه غواړم په دی وجه زه د دی بل هم د راستوم که د پښتون ملت تاریخ په راژوندی کولو کښې دا ادنی مدد زما قبول شی نو زه به مشکوریم .

۱ — چراغ کلی ته تګ
اورا تګ : ۲۱ میله
۲ — پانی پټ ته تګ
اورا تګ : ۱۳۰ میله
ټوله «۱۵۱» میله

زه داهم نه غواړم چه زما دا مدد تاسو په مجله کښې درج کړیء په دې وجه هم دخرڅ اندازه لیکل ضروری نه ګڼم البته ستاسو د شخصی پوهی د پاره د موټر دفی میل نرخ تاسو دښاغلی بینوانه اخستی شیء

په احترام - انوار الحق کران

اجتماعی

ښاغلی قدرت الله حداد

پښتونولی ته یوه کتنه !!!

لرغونی یونانیان دژوندانه په ټولو چارو کښې دلوړو افکارو او سوچونو خاوندان و، کوم شی چه د دوی عالی مدنیت څرګندوی هغه دافکارو نظریاتو داختلافاتو حل ددلیل او منطق له لاری څخه و، که څه هم ډیر متضاد افکار په کښې لیدل کیده دمثال په ډول که څوك له ټولو ارباب النوعو څخه منکریدل او دهغه وخت مذهبی عقاید به ئی تقبیح کول، نو دهغه دلایل به ئی هم اوریدل .

همدا راز علمی مشاجری او مباحثی ددوی په مینځ کښې شپه او ورځ روانی وی له همدی کبله دطالس ملتی هندسی قضیی چه ۶۲۴ کاله پخوا له میلاده ئی ژوند کاوه لاتر اوسه په ښوونځیو کښې او ستل کیږی، دیمو کریت او هراکلیوس دوه نیم زره کاله دمخه د اتوم نظریه ور کړه (البته په اوسنی شکل نه) .

همدارنګه په اجتماعی نظام کښې ډیر عالی قوانین لکه رای اخستل او انتخابات په هغه مهال کښې موجود و، کله چه خبرواترو کښې دعباراتو او کلماتو په لحاظ ځینی اشتباهات پیښیدل نو «ارسطو» دمنطق علم وضع کړ او دسوفسطیانو پښو ته ئی درنی تیږی وروغورځولی.

افلاطون هم د عدالت دتوجیه کولو له پاره دجمهوریت کتاب ولیك او په خپل خیالی ښار کښی ئی یو اجتماعی نظام وښوده چه د کمونیزم مبده له هغه کتابه بولی . ځکه په نوموړی کتاب کښې دیوی طبقی دټولو شیانو اشتراك لیدل کیږی. وروسته له افلاطونه هم ډیر خوبونه ولیدل شوه، مګر دبشر اخلاق ورځ په ورځ وروسته پاته شو، او دنړۍ تاریخ له ډیرو خونړو فجایعو څخه ډك شو، او نن ډیر خلك دا ناری وهی چه تخنیك او سیانس ډیر مخ کښې تللی او اخلاق زښت وروسته پاته دی. تر افلاطون وروسته «ابیکور» او نورو فلاسفو، ډیری ګروهی څرګندی کړی تر څو چه

دحضرت مسیح دین په اوروپا کښې
خپور شو او خپل اوج او قدرت ته
ورسیده چه البته فلسفه او علم ته ئې
څه فشارور کړ، لکه متعصبینو
هغه خبره چه ګرد سره له دینی
ار شا داتو سره مطا بقت حتی په
عبارا تو کښې هم نه درلود نه منله
او خبره ئی داسی مرحلی ته ورسوله
چه پاپا نو ټول قدرت په لاس کښې
ونیو تر څو چه د «رنسانس» دوره
را غله او د پاپا نـو اقتدا ر
محدود شو.

که مونږ همدا راز درست اجتماعی
نهضتو نه او فـکر ی انقلا بات
و ګورو نو دا به راته څر ګنده
شی چه دا تو ل نهضتو نه خپلو
بیرغونو باندی لیـکی چه:
(نظم عدالت- بشر دوستی).

ځینی خلك په دی عقیده دی
چه په نړۍ کښې یو د ا یمی
تـکا ملی حرکت موجو د دی
چه په هر مهال کښې د تـکامل
خواته درومی- مګر دغه تـکامل
صرف په تخنیـکی چارو کښې
دی او که نه د مصر پر خاوره
حمله او د انسانـانو وژل په
الجزایر کښې د کوم اخلاقی
تـکا مل نښه نه ګڼل کیږ ی
چه همدا اوس شوی دی.

مونږ به و ګورو چه مدنیت
مآبا ن په الجزایر کښې کومه
طبقه د پره وژ نی- پوه او منور
خلك که ناپوه او عوام- دا تو لو ته
څر ګنده ده چه هلته تعلیم یافته
ځوانان وژل کیږی.

خیر د بشر د تمایلاتو د معلومولو
له پاره اوس د روحیاتو علم ته
ضرورت دی- او هغه خیالی خوبونه
تر اوسه کومه بر ا بره زمینه
نه لری.

مګر څر نګه موچه پخو ا
وو بل دغه ټول قواعد: یوه نظم
د تینګولو لپاره مینځ ته راغلی.
پوهانو ثابته کړی ده چه محیطی
شر ایط په اخلاق، کـرو وړو
او رو حیاتو باندی تاثیر لری
نو د هر محیط خلك ځـان له
بېل بېل قوانین ایجابوی او له
همدی کبله د امریـکا قوانین
په چین کښې زمینه نه لری، څر نګه
چه هر بوټی په هر ځای کښې
نه شین کیږ ی - همد ار نـګه
هر قانون د خپلو مخصوصو شرا یطو
له مخی جوړ شوی دی.

په نـړۍ کښې ر از ر از
مد نیتو نه پیدا شول، قدرت ته
ورسیدل او بېرته له مینځه ولاړل
چه پروفیسر «ارنولد تاین بی»
معر وف مؤرخ د دغو مد نیتو
شمیر ۲۰۶ ښئی. اوس نو مونږ
خپل مطلب یعنی پښتو نو لۍ
باندی یوی کتنی ته را ګر ځو:

پښتو نولی د هغو قو ا نینو
مجموعی ته وائی چه له ډیری
پخو ا ز مـا نی څخه د پښتنو
نیـکونو له خوا د پښتنو د انتظام
له پا ره جو ړه شوی د ه. چه
د افغانستان د سیمی کولتورو رته
ویلی شو او د لوی سـکندر له
زما نی څخه پخوا د افغا نا نو
سیاسی او اجتماعی مسلك و،
هر څوك چه به دغو قوا نینو ته
تسلیم شو، او دغه شرایط به ئې
ومنل هغه به پښتون او افغان
بلل کیده.

څر نګه چه دو ی با ندی
د یری حملی پیښیدی نو دوی
(ملی غرور او ملی وحدت) غوره
و ګا نه او تل به ئې خپل شخصیت،
په دی و سیله ساتـه او خپل
دښمنان به ئې په شا کول.

د خوشحال حما سی اشعا ر
د دوی روحی او معنوی قوت



دابراهیم لودی پښتون پاچا دقبر هغه برخه‌چه پاك قرآن پرې‌لیکل شوی دی

د شاه چراغ دجماعت‌یوه برخه چه دې‌سرې ی (شاه چراغ) دسلطان سکندر دپیشوا حیثیت درلود

څر ګند وی چه هغو شرایطو کښی ډیر ضرور ؤ .

هټلر هم دی ته اړشو چه خپل ملت په خپلو پښو و در وی هو! هماغه غرور او ویاړ نه وه چه دجرمنی ملت سره له دی چه هومره سخته صدمه وا خسته بیا هم یو ژوندی ملت دی تولیدات ئې پخوا له جګړی څخه اوس ډیر شوی دی او «دسار» علاقه ئی بیرته په ځان پورې وتړله .

او په دوی کښی داقدرت موجود ؤ چه له درستی نړۍ سره دجنګ اعلان وکړی او پنځه کاله دغی جګړی ته دوام ور کړی . البته داشی دجرمنی دملت عظمت په تاریخ کښه په ښه توګه ښئی، دپښتنو موجودیت هم دیونانیانو مغلو، انګلیسانو په مقابل کښې دغه شی (ملی غرور- ملی وحدت) ساتلی دی چه دپښتونولۍ له مهمو اساساتو څخه شمیرل کیږی .

ددی دپاره چه مونږ په پښتونولۍ باندی پوه شو، نو یو لنډ عبور دنړۍ په نورو مهمو مسلکو باندې کوو :

یو له هغو مهمو مشربو څخه د «سوسیالیزم» مشرب دی چه دنړۍ په هر ګوټ کښې ئی هنګامی جګی دی، دسوسیالیسم کلمه یوه یونانی کلمه ده چه دسوسیو (اجتماع او ټولنه) او ایسم څخه مرکبه شوې ده. ایسم هر وخت دطرفدارۍ او مقدم شمیرلو مفهوم لری نو دسوسیالیسم عمده مطلب دجمعیت ګټه له فردی ګټی څخه مخ کښې ګڼل دی.

دکتور «پازارګاد» لیکی چه پخوا دسوسیالیسم مفهوم دوګړو دژوندانه ددرستو چارو او شئونو کنترول ؤ چه داقتصادی مؤسسو اداره هم ددولت له خوا په کښی راځی مګر نن فقط داقتصاد او صنعت کنترول دی او هم دیوه سیاسی ښوونځی نوم دی چه هدف ئې دخلکو په ګټه داتحادیو جوړول دی داسې چه ټول تولیدی وسایل دې ددولت په لاس کښې وی.

«لینن» د (انقلاب او دولت) په کتاب کښی لیکی چه: کمونیسم دری مرحلی لری (کله سوسیالیسم او کمونیزم یو شی سره بولی دهغه علت دادی چه دمارکس پیروان دنوی کمونیز مؤسس هم سوسیالستانو کښې شمیری) او په آخره مرحله کښې چه دکارګرو ددیکتاتورۍ انتقالی دوره تمامه شی دسړیو اسارت لرونکی تابعیت دکارویشلو سره یو ځای له منځه لاړ شی هغه وخت چه دفکری او جسمی کار تضاد له هغه سره یو ځای خلاص شی هغه وخت چه کار کول نه یوازی دژوندو سیله بلکه دژوند له خوا یجو څخه وګرځی هغه وخت چه تولید کوونکو طاقتو ته دخلکو دتکامل سره یو ځای رشد ورکړی او داجتماعی زیرمی (ثروت) چینی دسیل په شان جریان ومومی فقط هغه وخت کولای شو چه دبورواژی محدود افق له مخی لری کړو .

او ټولنه کولای شی چه پرخپل بیرغ باندی ولیکی «دهر چالیاره دهغه داستعداد په اندازه، او هر چا ته دهغه له احتیاجه سره سم» دادی دکمونیستانو هغه جهان چه په نظر کښې ئی لری دوی تاریخ له مادی نظره مطالعه کوی او دتولید طرز او روابط په درستو

سیاسی او اجتماعی افکارو کښې ډیر مهم کښې.

سوسیالستان په خو شعبو ویشل شوی دی مګر په عمومی صورت سره دمالکیت طرفدار نه دی او تولیدی طاقتونه د تولنی مال بولی او له بسلی خواد بین المللیت غوښتونکی دی.

ورو سته له هغه څخه چه د «وارسا» په کنفرانس کښې دجرمنی هیوادته لوی تاوانونه ورورسیدل نو دوی په ډیر شدت سره خپل ملیت او ملی عظمت ته متوجه شول ځکه چه دوی دبین المللی عدالت څخه ډیر متأثر ؤ.

دناسیونالستی لوړ تیا په نتنی مفهوم له جرمنی او ایتالیا څخه شروع کیږی.

په جرمنی کښې دناسیونالستی فلسفی جرمنیانو ته یوه تاریخی وظیفه تاکلی وه او هغه هم په دې مفهوم چه باید د بشریت کاروان دی د یوه عالی نژاد او وینی له خوار هیری شی چه دغه وظیفه دجرمنیا نو دعالی نژاد په غاړه ده.

هټلر په خپل معروف اثر «مین کامف» کښې لیکی چه: له بده مرغه یوژوندی اید یال «ددی دپاره چه تل دی دبشریت لارښوونکی ستوری وی» باید د بشر نقص او ضعف دی ومنی چیری نه چه دخوځیدو په وخت کښې له طوفان او فنا سره مخامخ شی.

دنژاد مسئله چه د محیطی اوجغرافیائی شرایطو محصول دی یو مسلم حقیقت دی چه «منتسکیو» په روح القوانین کښې پر دی موضوع باندی ښه رڼا اچولی ده او هم نن دبیولوجی عالمان پر دی حقیقت اعتراف کوی، البته په دی برخه کښې په خپله انسانان کومه ګناه نه لری بلکه دوی د آب وهوا او محیطی شرایطو محصول دی چه مشخص صفات او علایم ئی پیدا کړی دی.

که چیری مونږ دغه تول موضوعات په صحیح توګه څیړو البته ډیر ماخذ، وخت او توان غواړی او زمونږ مطلب یوه کتنه ده چه و ګورو آیا پښتونولی هم یوه منطقی او فلسفی پایه لری او که یه؟ او بل داچه خلک په خارجی اصطلاحاتو مین دی او خپلو اصطلاحاتو څخه بده منی او ډیر هم بی له دی چه دا موضوع و څیړی خپل مخالفت څرګند وی ښکاره ده چه دارو یی معقولی نه دی.

سیاسی تفسیر کونکی هټلر ناسیونالست نه بولی ځکه چه دی دنژاد مسلمی ته ډیر متوجه دی.

او ملی مسله نور توضیحات غواړی- چه سیاسی حدود دیوه ملت په جوړ ولو کښې ډیر مهم رول لری.

ددیموا کراسی مسلک هم له مهمو مسلکو څخه دی چه ددیموا کراسانو په عقیده د بشر د طبیعت سره برابر مسلک دی او مطلب ئی د ویلو او لیکلو کسب اختیارول- دانتخاباتو او رایو خپلوا کی ده، په دیموکراسی نظام کښې مظاهره او اعتصاب منع نه دی او فردی حقوق په کښې محترم شمیرل کیږی. چه البته ځینی قیود دبې نظمی دمخنیوی له پاره لری.

ددیموکراسی نظام د بشر د تکامل دپاره ښه وسیله ده د ویلو او لیکلو آزادی څخه

خلك ډېرى استفادى كوى او دافكارو له تصادمه څخه د حقيقت رڼا څرګند ېږى - او صحيح فكرونه ژرژر مينځ ته راولى ځكه چه بشر كښى ډېر ډېر ابتكارونه موجود دى دافكار ووژل او اختناق او يه گناه ده.

دچين سوسيالستان خپلى سوسيالستى ته «نوى ديموكراسى» وائى «كنترول شوى ديموكراسى» او هغه «متمركز ديموكراسى» اصطلاحات دى چه دوى ئى په خپلو ليكنو كښى استعمالوى.

دديموكراسى مهم شعار دا دى «چه د خلكو حكومت پر خلكو باندى د خلكو له پاره» كه مونږ دغه مسلكونه او مشربونه چه وروسته وروسته ئى شمېرل او څېړل ډېر ېږى و څېړو - نو پښتونولى هم په دى لړ كښى ځاى نيسى او له نور و مسلكو څخه به بيرته نه وى.

پښتونولى كه څه هم د كومى مجموعى په توگه لاتر او سه څرنگه چه ښائى تدوين شوى نه ده - مگر د پښتنو په ذهن او اخلاقو كښى موجوده ده چه هر وحت مطالعه كيداى شى پښتانه په خپلو قوانينو باندى پوهېږى او له ياده ئى زده كړى دى بيا هم د خوشحال له خوا بيان شوى او هر څوك ئى د ده د وينا ؤ څخه مجموعه جوړولى شى.

وروسته له خوشحاله په پښتونستان كښى پښتونولى باندى «پاچاخان» ښه پوه دى او په روزلو ئى بوخت دى - په افغانستان كښى داعليحضرت شهيد سعيد محمد نادر شاه پښتون پالونكى پاچا په امراوارا ده محمد گل «مومند» د پښتونولى تفسير كوونكى بللى شو، قيام الدين «خادم» هم د پښتونولى ترعنوان لاندى بوورو كى كتاب ليكلى دى چه په هر حال كښى يوه صحيحه او لازمه څېړنه غواړى او داد پښتنو وظيفه ده چه د پښتونولى مجموعه جوړه كړى.

پښتونولى رښتياويل - كار كول باطنى صفا در لودل او نور لوړ مبادى لرى چه دغه راز لټى دروغ له هغه څخه مخالفى خبرى دى د پښتنو په ډېرو سيمو كښى دچا په خونو كښى كلپ نشته او كورونه خلاص پرېږدى كوچيان چه خپلو كږ د يو څخه د باندى وزى د كږ دى وره ته يو چچ ودروى چه داشى دمدنيت ډېره عالى مرحله ښيى - داسى هم شته چه زمكى ويشلى شوى نه دى په گډه سره ئى كرى او غلى په گډو كندوانو كښى اچوى او هر څوك نظر و خپل احتياج ته له هغه څخه څه راباسى او پخوى ئى، كه چيرى ماښام مسافر راور سېږى نو هغه په كور و بو سره ويشى.

ددوى مشران چه درستى چارى ورپه غاړه دى له كثرانو څخه په خوراك پوښاك كښى هيڅ توپير نه لرى او يو راز خړكالى به ئى اغوستى وى او خوراك به ئى دهغى سيمى داقتصادى سويى سره سم وى. ددوى كرارى خوښه ده او هر وخت ئى غوښتونكى دى - مگر دځان مدافعه هم كوى پښتانه دوستى خوښوى او له هغه څخه خوند اخلى او بشرى احساسات په دوى كښى ډېر قوت لرى، دوى نور خلك دښو صفاتو له مخى پېژنى او مينه ورسره لرى - دوى خپل مشترك تاريخ او مشترك حدود پېژنى او هغو سره چه گډژوند لرى دورور گلوى مينه لرى - لنډه داچه اقتصادى، اجتماعى سياسى، عرفانى چارى د پښتونولى داساساتو له مخى ترتيبيداى شى.

ځکه چه :

دښاغلی سیفی ترجمه

د خان عبدالصمد خان محاکمه

(۵) برخه

شکایات :

۱ـ د پاکستان د اسلامی جمهوریت داعلان نه وروسته هم په دې ملک کښی د پښتنو د آبادۍ په سلو کښی پنځمه برخه چه تش په نامه خصوصی علاقو کښی استوګنه کوی درای ورکولو د حق نه محروم اوبې برخی دی او هم د رای ورکولو حق د آزادۍ د ټولو نعمتونو څخه لومړی حق او لوړ نعمت دی .

۲ـ نوموړی پښتانه پخپله د آئین له مخی د یو جمهوری ملک د آزادۍ د ګټو څخه محروم اوبې برخی پرېښودل شویدی .

۳ـ په دې علاقه کښی د پښتنو په جرګو کښی نمایندګان هغه خلک دی کوم چه انګریزانو ټاکلی او مقرر کړی و، لیکن همدغه کسان په صوبائی او مرکزی جمهوری ادارو کښی یواځی دې د پاره شریک کړی شویدی چه دوی د حکومتی او سرکاری بلاک په مرسته او حمایه کښی د ارا کینو په خلاف استعمال کړی شی، حال داچه د دې ادارو یوه فیصله هم د نورو پاکستانیانو پشان په دوی باندی نه اجرا کیږی .

٤ـ د پښتنو یو ډیر اکثریت نن هم د برطانیی د وختو په شان د آمریتی نظام لاندی دی او دغه کار د موجوده جمهوری دور، د عدلی نظام او د جمهوریت په لمن یو بد نما داغ دی . حال داچه د پښتنو په هغو علاقو کښی چه پښتانه پکښی آباد دی نن هم د انګریزانو د دورې په څېر په حد بندیو کښی د ننه بند ساتل شویدی .

۵ـ د انګریزی قانون د پیروۍ په اثر پښتنو سره دغه امتیازی سلوک جاری ساتل شویدی او دغه شی زمونږ په آئین کښی هم موجود دی، حال داچه زمونږ حکومت په جنوبی افریقه کښی د دې ډول هغه امتیاز په خلاف چه زمونږ د خلکو سره په هغه ځای کښی کېږی په ټینګه اراده دغه روا جنګ شروع کړی دی .

٦ـ پښتانه دورونو په شان نشی ګڼلی بلکه پښتانه دوهمه درجه ښاریان ګڼلی شی او دیونټ غوندې مهمه مسئله کښی له دوی څخه رای اخستل مناسب نه شی ګڼلی او د دې خبری کوښښ کولی شی چه د دوی رای عامه د انګریزانو د دورې په شان د بد دیانتۍ خواته په دې ډول مائلی کړی شی چه له دوی څخه ځینی خلک د رشوت او بډو په ذریعه په بیه واخلی او له دې خریدارۍ نه وروسته دوی نړۍ او پښتنو ته د اعلی لیډرانو او حقیقی نمایندګانو په بڼه وړاندی او ښکاره کړی .

۷ـ په اقتصادی لحاظ که پښتانه په قومی او بین الاقوامی هغو رویو کښی چه په دې

ملک لګیږی برابر او مساوی
حصه دار و ګڼلی شی نو باید
د ېته هم وکتلی شی- چه د
سیاسی او معاشرتی غلطیو په
مقابل کښی په دوی باندی
ډېر ظلمونه کېږی.

۸- دا هم یو ښکاره او
منل شوی حقیقت دی چه نن پښتانه
او ددوی اقلیتونه، دې تش په نامه
مشرانو ورونو یعنی
بنګالیانو او پنجابیانو دسودا
خرڅلاو مال جوړ کړی دی او تل
دری اخوادی خوا کوی، ددی
شرمناکو او دظلم نه ډکو کارونو
مثالونه په یو یونټ او آئین کښی
ډېر موندل کېږی او ددې شیانو
مظاهره دډها کې دقومی اسمبلۍ
داجلاس په موقع کښی هم شوېده
ددې سودا بازۍ ډېر مثالونه
خوڅرګند شوېدی او د ځینو
دڅرګندېدلو هیله کېږی.

آیا د کوم بنی نوع انسان
او یا دبل چا څخه داهیله کېدلی
شی چه هغه دې په دی نادو دو
سترګی پټی کړی او یا دی هغه
ګرفتار کړی شی او هغه ته دې
سزاور کړی شی.

۹- مونږ پښتانه ښه پوهېږو
چه زمونږ دې مشرانو ورونو
یعنی پنجابیانو او بنګالیانو
په دی نهو کلونو کښی دخپلو
حقوقو دساتنی دپاره دیو بل په
خلاف ترکومی اندازې لاسونه
پښې وهلی او دا کوښښونه ئې
کړی دی چه یو بل سره دشمازې
او دژبی په اعتبار مغلوب کړی
دې کوښښونو ډېر واره ډېر
بداو کرغېړن شکل اختیار کړی
دی او په ځینو وختو کښی ددوی
دغی مجادلی نردې اندازې بد شکل
هم اختیار کړی دی چه یو بل
ته ئې دجلا کېدلو نور
تهدیدیدونه هم ور کړی دی.

نو آیا دخپلو ژبو او دخپلو
حقوقو دتحفظ او ساتنی دپاره
د کوښښونو ټیکه هم دی دوو
ورونو دپاره مخصوصه ده او دا ځکه
چه ددوی شمېر ډېر دی، باید
دلږ شمېر خلکو ته هم خپل جمهوری
حقوق ور کړی شی او خاص په
یو داسی صورت کښی چه هغوی
دخپلو دغو حقوقو دلاس ته راوستلو
دپاره پخپله په آئینی او دعدم
تشدد په لیار کښی کوښښونه کوی.
که زما دا دوهم عرض صحیح
وی نو په دې صورت کښی زمونږ
لیډران ولی بندیان کېږی
او زمونږ دمطبوعاتو په مریو ولی
ګوتی ایښودلی کېږی او زمونږ
جماعتونه او حزبونه ولی دقانون
څخه مخالف ګڼلی شی، په داسی
حال کښی چه مونږ ددی یو یونټ
مخالفت یو اځی له دې کبله کوو
چه دپنجابیانو دا کثریت څخه
دخپلی ژبی او خپلو حقوقو تحفظ
وغواړو، دا ټول وجوهات او ددی
وجوهاتو نتیجې او بیا دپښتنو
دمعاشرت جلاډول او طرز هر یو
عاقل او بالغ پښتون ته دفکر کولو
دعوت او بلنه ور کوی.

له دې کبله زه په دی خبره
پوره یقین او عقیده لرم چه ژروی
او که وروسته پښتونستان.

**جوړېدونکی دی او ارومرو به
جوړېږی او که داسی ونه شی
نو هر پښتون به په قدرتی او طبیعی
دول په دې فکر بوخت شی چه
دی به دپاکستان په حکومت
او آزادۍ او جمهوریت کښی په
کوم ډول او کومه لیار دبرابری او
مساوی اشتراک او برخې خاوند شی.**

په ځای ددې چه دی ددې
ټول ملک په ترقۍ او خوشحالۍ
کښی منهمک شی، دی په دغه
خیال کی بوخت او لاهو کېږی.

په پښتنو کښی یو مشهور

متل دی چه (څه دی په هغه
پسرلی- چه نه دی پری غواخری
نه دی پرې خوسی) له دی متل
څخه دانسان فطری رجحانات
په ښه ډول معلومیدلی
او څرګندیدلی شی، دا یوه سمه
او ښکاره خبره ده چه که د یو ملك
(۰۲۰ر۰) آبادی مطمئنه نه وی
نو دغه راز ملك کښی به څنګه
څوك امن او ترقی په ستر ګو
وګوری، له دی کبله چه ما
د خپلو عوامو خدمت په ډېر
اخلاص سره کړی دی نو زه
د دوی په رجحاناتو او نبضو نو
ډېر ښه پوهېږم او په پوره
دیانتداری سره دا رایه وړاندی
کوم چه بی له کوم خارجی
حکومت څخه د اصورت حال
بل هیڅوك نشی استعمالولی
او له دی کبله زه غواړم چه
دپاکستان د حکومت او عوامو توجه
دغه صورت حال ته ورو ګرزوم .
مونږ دا کولی شو، چه پښتنو ته
په پاکستان کښی مساوی حقوق
ورکړو او دغه مساوی اشتراك
په اثر دوی د پاکستان په چارو
کښی د ځان سره شریك کړو
او د دوی علاقې ته په پاکستان

کښی د ننه آزادی او خودمختاری
ورکړو او له دې وطن څخه
بوا نتهائی جمهوری ملك جوړ
کړو او په همدی طریقه د دوی
ټولی رابطې د افغانستان څخه
منقطع کېدلی او شو کېدلی شی.
که تاسو غواړیء چه دوی
دی د افغانستان سره خپلی ټولی
رشتې غوځی کړی او که تاسی
د دی کار په ستر ګو لیدل غواړیء
نو باید تاسی دوی د جمهوری
طرز د حکومت او د خپل طرز
معیشت د جګ نعمت څخه محروم
نه کړیء، د پښتونستان
د مطالبی د پاره چه زما کوم
خیالات او وجوهات و هغه مو په
مختصر ډول بیان کړل هغه
همدغه دی .

پښتونستان او بلوچستان :

زه د بلوچستان په پښتنو کښی
پیدا شوی او لوی شوی یم او دا یوه
قدرتی خبره ده چه زما په سیاسی
ژوند او سیاسی مقاصدو کښی
د دوی ضروریات او مسائل ما ته
له هرڅه وړاندی وی، له شروع
څخه ما دا خبره حس او معلومه
کړه چه د دوی د وروسته پاته
کېدلو او زمونږ د بې بسی

مهم سبب زمونږ د تعلیم ناقصه
طریقه ده .
او هغه داده چه د دوی ته
د دوی په مورنی ژبه کښی
تعلیم نه ورکول کېږی، له
دې کبله ما په ۱۹۳۲ع کال
کښی په جیکب آباد کښی
د بلوچستان کنفرانس په موقع
کښی چه د دې علاقی په تاریخ
کښی دا لومړی ملی غونډه
وه دا خبره تصویب کړه چه
باید متعلم ته ابتدائی تعلیم
د هغه په مورنی ژبه کښی ورکړی
شی، په متحده هندوستان کښی
د کانګرس سره زما د تعلق مهم
سبب د کراچی هغه قرارداد ؤ
چه ما د دغه قرارداد د پرزیات
تائید کړی ؤ په دغه قرارداد
کښی په آزاد هندوستان کښی
د ننه د خود مختارو لسانی
صوبو ضمانت کړشوی ؤ زه
پخوا هم پوهېدم او اوس هم
په دې ډېر ښه پوهېږم چه
د بلوچستان په کوموځایو
کښی چه خلك په مختلفو ژبو
یعنی پښتو، بلوچی، سندهی
بروهی، فارسی او ملتانی ژبو
خبری کوی او د دغو خلکو ټول

شمېر شپږ لکه دی د پښتنو په
مورنۍ ژبه کښې تعلیم ورکول
امکان نه لري لیکن د بلوچستان
په کومو ځایو کښې چه پښتانه
اکثریت لري د هغو د دغې
نیمګړتیا دپوره کولو یو ځینې
علاج د پښتونستان قیام دی
او بس هر کمه چه د پاکستان
حکومت په ۵۲-۱۹۵۱ ع کلونو
کښې د ډاکټر محمود حسین
په مشرۍ د بلوچستان د آیینی
اصلاحاتو د پاره یوه کمیټه
وتاکله، نو ما نه ئې د دې
کمیټې یوه سوالنامه په رسمی
ډول د هرې پوړ مرکزی
بندی خانې ته راولېږله، زه
په دغو ورځو کښې په دغه
بندی خانه کښې بندی وم او
په دغه وخت کښې هم ما
د بلوچستان د تقسیم مطالبه
کړې وه او ویلی مې ؤ چه
باید د بلوچستان هغه علاقې
چه پښتو پکښې ویلې شی
د سرحدی صوبې سره یو ځای
کړی شی او دا ځکه چه دا
یوه قدرتی او صحیح طریقه ده
او له همدې لیاری څخه
پښتنو ته ددوی په مورنۍ ژبه
کښې د تعلیم دور کولو مشکلات
حل کېدلی او د نورو معاشرتی
سهولتونو خاوندان کېدلی شی
په ۱۹۴۳ ع کال کښې
د بلوچستان ځینې مسلم لیګی
لیډرانو چه په دغو بلوچستانی
لیډرانو کښې محمد هاشم خان
غلزی، میر جعفرخان جمالی او
خان عبدالغفور خان درانی
هم شامل وو ماسره و کتل اوله
ما څخه ئې دا پوښتنه وکړه
چه تاسی په بلوچستان کښې
د سیاسی اصلاحاتو د پاره کوم
تجویزونه وړاندی کولی شی.
دوی کراچۍ نه دې د پاره
تلو نکی وو چه په دغه ځای
کښې دوی په دې مسئله د
مستر محمد علی جناح د مسلم
د صدر په ملګرتیا په بلوچستان
کښې د اصلاحاتو په
شا او خوا کښې مرکزی اسمبلی ته
یو بل وړاندی کړی.
ما دوی ته په جواب کښې
وویل چه بلوچستان ته په دې
موجوده شکل کښې هیڅ قسم
اصلاحات ګټور نشی ثابتېدلی
او دا ځکه چه په دې ځای کښې
خلک په ډېرو ژبو خبری کوی
ما دا تجویز هم وړاندی کړی ؤ
چه باید د بلوچستان هغه
منطقې چه پښتانه پکښې اکثریت
لري د هغو سرحدی منطقو سره
چه دوی سره متصلی دی یو ځای
کړې شی، د غو خلکو ما ته
زما د دغې خبری نه وروسته وویل
چه مستر جناح هم دغه نظریه
لری.
د بلوچستان پښتانه له دې
کبله هم پښتونستان ته ضرورت
لری چه د دوی د آبادۍ شمېر
په بلوچستان کښې څلور لکه
دی او دومره خلکو دپاره دیو
جلا وحدت جوړول معقول کار
نه دی نو له دې کبله دوی باید
د سرحدی صوبې سره یو ځای
کړی شی او دا ځکه چه که
دوی سره متصلی د پښتنو علاقې
دوی سره یو ځای کړی شی
نو په دې صورت کښې به دغه
ټول پښتانه د بلوچستان په اقلیت
کښې واقع شی او همدغه راز
په کومه علاقه کښې چه دغه
پښتانه پراته دی هغه د ومره
ارته اوپراخه علاقه ده چه
دهغې د ودانولو دپاره باید د
باندې څخه نور خلک دغې علاقې ته

را وستلی شی او د دې کار
په اثر به هم د دوی آبادی په
اقلیت تبدیل شی .

لیکن که دوی د سرحدی
صوبې سره یوځای کړی شی
نو په دې صورت کښی به د دوی
آبادی له اتیا لکو څخه یو
کروړ ته ورسیږی چه په دغه
صورت کښی نه له دوی څخه
اقلیت جوړېدلی شی
او نه د دوی ژبه او ثقافت د کوم
یو خطر سره مخامخ کېدلی
شی .

له تېرو څو کالو څخه را په
دې خوا د پاکستان حکومت
د بلوچستان په تعلیمی او عرفانی
چارو ډېری روپۍ لګولی دی
او په دې منطقه کښی د ابتدائی
او متوسطو او عالی ښوونځیو
شمېر پوره زیات شویدی او دغه
ټول کارونه د پرو پاګنډ د پاره
ډېر ګټور دی ؛ مګر د دې ټولو
کارونو او مصارفو اندازه د دوی
د نتیجو څخه لګېدلی شی په دی
ډول چه په ابتدائی مکتوبونو
کښی څومره شاګردان داخل
شوی وو او څومره کامیاب شویدی
او همدغه راز د کوټې په کالج
او امین الدین میډیکل سکول
کښی د پښتنو طالبانو د شمېر او
تعداد څخه معلومېږی چه د دې
شاګردانو معیار څه دی ، د دې
دومره لوی نقصان د ټولو نه لومړی
او مهم سبب دادی چه د پښتنو
شاګردانو د اقیمتی وخت او د دغو
پیسو ډېره برخه د یوې داسی
ژبی په زده کولو صرفېږی چه
هغه د دوی مورنۍ ژبه نه ده
او له دې کبله د بلوچستان د
پښتنو د پاره د نورو خلکو په نسبت
د پښتونستان قیام او تاسیس
ډېر ضروری دی ؛ که دا کار
ونه شی او په نورو لسو راتلونکو
کلونو کښی د نورو صوبو سرمایه
داران دلته راشی او هغو ته په
دې منطقه کښی د فابریکو د تاسیس
اجازه ورکړی شی لکه چه دغه
کار اوس شروع شوی هم دی
نو په دې صورت کښی به دا
خلک په خپلو کورونو کښی
هم د یو لسانی او تمدنی اقلیت
په صورت کښی پاته شی او په
دې صورت کښی به د دوی
د مایوسۍ سره
مخامخ شی او د دوی زړونه
به مات شی او په دې وضعیت کښی
به د دوی له دغی بلا څخه د ځان
د خلاصولو په فکر او تکل کښی
ولوېږی چه دغه کار د ټول ملک
دامن او ترقۍ د پاره ښه
او مناسب نشی ګڼلی .

قبایلی علاقې

دا یو ښکاره او منل شوی حقیقت
دی چه انګریزانو د قبائلی
علاقو ایجنسو او سرحدی
ریاستونو خلکو ته چه د پښتنو
د آبادۍ د ۷۵ فیصد برخه ده
یې د نوپکو ویشتلو او ماهوار
معاش او یا شپږ میاشتنی و
کالنی ماجب دا خیستلو څخه
بل څه نه دی ورښودلی او دا خلک
نن هم د سیاسی تعلیم او جمهوری
اثراتو څخه لرې او په ډډه ساتل
کېږی هغه خلک چه تل دې
منطقې ته په غیر قانونی ډول
چرسونه او وسلې راوړی هغوی
په دې منطقه کښی ډېر هوسا
او ښه ژوند کولی شی ، لیکن کوم
سیاسی خلک چه د دوی څخه
د ورور ګلوۍ او عدم تشدد
د درس او تعلیم د پاره ورځی
هغوی د دوی په منطقه کښی
ورننوتلو ته نشی پرېښودلی

ارمان او پښېمانی

اې خدایه ،زه یوا زې یم !زه پرېشانه او بې مرستی یم !

وړې وړې مرغۍ چه جوړه جوړه اوسیلونه سیلونه گرځی ماته ژړا

راځی !

کوم وخت چه په سحرا کی څرېدونکی غوائی یوتر بله ښکرونه ورته کړی

نوزما په زړه کی دوینو لیاری وشی !

پسرلی اومنی چه زانی په پورته شنه فضا کی قطارونه قطارونه دیو مشر

په راهنمائۍ دسفر منازل قطع کوی نوهغه وخت له خفگانه زما ستونی بند

شی ! هغه وخت چه ووینم بلبلی په اتفاق دتپوسانو دضرر ددفاع دپاره په

هغو غوتی وهی ،او چرگه دچرگوړو دساتنی په نیت ځان دسپو او

پیش پړانگانو دنوکانو خنجرونوته مقابل کوی، نودنامیندگۍ توره تیاره

ماته جهان تورتم کاندی !

آه زه یوازی یم!دښمنان رانه چاپېر دی ! څوك می دمال اوڅوك می دسر

په فکر کی دی ! زه څه پوهېدم چه حق په قوه ساتل کیږی ! زه څه پوهېدم

چه ته زما مټ اوبازو ئې ، اې زما دکاکازو یه !

ماویل ته زما رقیب ئې ماویل ته زما ضرر ئې !

ماویل چه ته زما تربور ئې !

سررا پورته کړه اې زما عزیزه !

ملادی وتړه ،اې زماد شرف اونا موس ساتونکې ،غیر تی وروره !

ولی غبزنه کړی ،او غلی یر وت ئې ،یاخه چو نور محوه کیږم ،اې زما

گرانه رو کیه !

آه خدایه ماخپل ورور پخپله وژ لی دی !

آه ،زه دی ومرم زما ننگیا لیه وروره ! ! !

کابل مجله د۱۳۲۷ کال دحوت او له

«قیام الدین خادم»

د یتیم ارزو ؟

ژړل ئې — . . . .

مګرنه ددې دپاره چه د کاسکیټ خولۍ ئې زړه وه یا ئې داختر په شپه ګلالی کالی بې او تو پاته شوی و . . . .

ځکه داشیان ئې یوهم نه د ر لودل !

نوولی ئې ژړل ؟

څه آرزو ئې وه ؟

داختر رو ځ وه لوی او کم خوښی کوله پـه تېره بیا دده همز ولو په ډېره مستۍ خندل ، نخېدل اوتو پو نه ئې وهل ، مګر ده چه له سهار څخه په ژړا پیل کړی و ، لائې ژړل اوهره ګړی چه به ئې یو پلار اوزوی په خنداسره و لیدل دده تاثیر به ډېرېده . . . . داځکه چه ده په دې نا بوده دنیا کی فقط یو ه کلمه خبر ه غو ښته چه څو ك ئې و کړ ی ، خو له بده مرغه داڅه چه و کړ ی د ده شا و خوا تېر ېدل د یو ه تر خو له هم هغه کلمه د د ه په نسبت نه وتله . . . . . .

دا کلمه کو مه وه؟ ؟

هغه ؟

هغه دا کلمه وه !چه یو سړی راشی دد ه پر سر د لاس تېر ولو په و خت کی ووا ئی «زو یه ! »

ځکه چه ده پلار نه درلو داو نو ر و ده ته دز وی په ستر گه نه کتل او همد اسی به تر تېر ېد ل .

نو اې دښه ځوی تښتنه !وېر ېږ ه چه کومه ورځ به ستا ناز ولی زوی هم دې کلمې ته اړ شی . . .

راشه تر هغه دمخه پردې ویر ژلی یتیم رحم و کړه ا ودخپل زوی په څېرئې غېږ ته در نژ دې کړه—

او ورته ووا یه «زو یه !»

«بېنوا»

وداد

تاسی به‌خیال و کړیء چه‌دائې څه نا اشنا عنوان منځ ته راوو یست مګرمه وارخطا کېږیء حوصله لویه کړیء زما کوښښ دادی چه‌دخو نداو دردخبری راغونډې کړم . دریل دشو ګیرۍ په‌وجه ترغرمې پوری له کوټې نه بهر ونه وتم مطلب داؤ چه لږ ارام و کړم ، مګرخونه سړه وه دزنګنو ستر ګې می‌درد ونیولې سم‌ارام نه کیده او دومره ناآرا می‌هم نه وه،خیرپه هرصورت د مازیګر تر پنځوبجو پورې کېناستم ځکه چه افغانی سفارت څخه می دچا دراتلو امید درلود ولی چه دهوټل څخه‌می تېلفونی خبرور کړی ؤ.چه‌څوك رامعلوم نشو نوبازار ته یواځی‌ووتم خیال می‌و کړ چه‌په‌تهران غوندې‌ځای کښې ټوله ورځ په کوټه کښې کېناستل دځان‌سره ظلم کول دی،دلږ ساعت ګرځېدونه پس یوې سینما ته‌لاړم هلته‌د (وداد) په نامه‌یوعربی‌فلم چالان ؤ دعربی فلم دلیدو ډېر شو قمن وم ،په هند کښې می‌اراده درلو ده چه د راګرځېد وپه وخت به په بصره‌او بغداد کښې‌عربی‌فلمونه و ګورم،مګر نصیب زما دارا دې واګې د خرم شهر په لار تهران ته راوګرځولې اودلته ئې په‌عربی فلم واړولم ،اوس د (وداد) دفلم لنډه غوندې قیصه‌واوری ء :

(وداد)داخوږ نوم‌چه‌ددوستۍ اومحبت په‌معنی‌دی‌دیوې‌عربی‌پېغلی‌نوم‌دی دا پېغله دیو (باهر) نومی ځلمی محبوبه او دژوند ملګرې وه په‌اول کښی ددواړوښه ژوندون ؤ (باهر) دسوداګرۍ کارکاوه ،پیسې ، هرڅه‌ډېرؤ ، او ددواړو شپې ورځې‌په خوښۍ تېرېدی ، وداد به کله کله‌د غوړېد لو

گلونو په څنګ کښې باهر ته د شعر او موسیقی رنګینې نغمې اورولې او دژوند خوند ونه به ئې په لپولپو لکه شبنم ور شیندل .

دقضا اراده داسی وشوه چه باهر په خپل تجارت کی لاس تنګی شو یو ځلی ئې د مال قافله داړه ما رواوغلو ووهله، بل ځل هم ورته دغسی قضیه پېښه شوه او دده مالی حالت ډېر خراب شو، له یو بل نه قرض پور کولو ته اړشو. (وداد) چه به دی همېشه غمجن او فکر من لیده نو ډېره تسلی او ډاډ گیر نه به ئې ور کوله مگر دهغه زړه قوت نه مونده او همېشه به پرېشان او غمجن ؤ- اخر یوه ورځ ورته وداد وویل چه: زه نور ستاسره په دې حالت کښې ژوند تېرول نه غواړم، له تا نه زه خواهش کوم چه ما خرڅه کړه او په هغو پېسو خپل کاروبار روان کړه ! باهر ته داخبره ډېره سخته معلومېده ځکه چه د وداد نه زړه صبرول هم څه اسانه خبره نه وه .

خو اخر وداد په ټینګار او دباهر دیو ملګری په مشوره په دغې خبرې راضی شو، وداد ئې دانسانانو دخرڅلا و بازار ته وروستله په پخوانو عربو کښې دوینځو دخرڅولو رواج ډېرو، نو په دی وجه به دوینځو خرڅون دپاره یو خاص بازار جوړېده، وداد هم دبی رحمه زمانې څپېړو دغه بازار ته وروستله دپیسو خاوندان راټول شول. دوداد دڅېرې ښایست خولا پرېږده د آواز تاثیر ئې دزړو نور گونه خوځول انسانان څه چه حیوانات ئې هم له خوده اېستل . دغه وخت دې خپله داؤدی نغمه شروع کړه، مگر دې نغمی او هغې نغمی چه دې به دباهر په غوږ کښې ویله ډېر فرق درلورد، دا نغمه ددې دپاره وه چه ځان دباهر دپاره خرڅه کړی او هغه له پرېشانۍ څخه خلاص کړی . دعربو بازار له سړو ښځو، وړو، سپین ږیرو نه ډک دی کوم وخت چه

دوداد له ور ېښمينې حنجرې نه د (حدس) نه زيات اغېز ناك غږ جګ شو
نو د قافلې اوښانو ورته دنګی غړۍ کېږې کړی او پښه نيولی و در ېدل
آوازونه تندرو، قيامت ؤ طوفان ؤ د کاڼی زړه ئې اوبه کاوه او سپينې ئې
ويلی کولی، د ګلونو ښاخونه ئې کېږول، مارغان ئی را کوزول نو د يو سپين ږيری
عرب زړه به ئې څنګه له کوګل څخه نه ويسته، يو سپين ږيری عرب پرې له
پنځه زرو روپو نه تېر شو، دا قيمتی سودائې وکړه او په بېړۍ کښې سپاره شول د بېړۍ
بادوانونه په حرکت راغلل، دوداد له اوښکو نه سيندونه جوړ شول ګويا و د او
د «باهر» له کورنه بهره شوه او د «رضوان» د کاله ګوتو نه پرې رڼا شول
سپين ږيری عرب به هميشه دوداد په شعر، موسيقۍ پائيده، دغه ئې مشغولاوه
او دغه ئې د روح غذا، دده يو وراره و، هغه غوښتل چه دوداد د زړه مينه ځانته
راوګرزوی مګر دا بيچاره نه پوهيده چه دده تره خو يوا ځی د وداد وجود په
پيسو اخستی و، او دائې کورته راوستلې وه، مګر ددې زړه داخستلو شی نه و،
او هغه د باهر سره په خپل کور کی پاتی شوی و، د خدای کارونه ګوره، د لته
رضوان مريض شو، د ژوندانه تمه ئې خلاصه شوه، وداد به ورته شپه او روځ
ناسته وه او هلته د باهر د ژوند پسرلی بيا په غوړيدو راغلی و، تجارت ئې بيا رنګ
ورو بق موندلی و او د مال پيسو مخه بيا ورته راګرزيدلې وه ـ سپين ږيری
مريض د مرګ په حال پروت و، او وراره ئې (وداد) ته غاښونو چيچل چه ته
خو زما ميراث ئې که په رضا دی ځان را نه کړه زور خو چارانه وړی نه دی وداد به
دده د مخه بېله يو څو مړو اوښکو نه نور څه ويلی نه شول د رضوان آخری وخت
دی په دې وخت کی ده وداد ته سترګی راواړولی او رته وئې ويل: چه تا زما
په خسمانه او خدمت کی ډېر کړاوو ويست زه د اجل په دروازه ولاړيم او دا خپل

وصیت تاته لیکلی در کوم، زه رضوان دمحمدزوی اقرار کوم چه ماخپله و بنځه (وداد) ازا ده کړه زما دمرګ نه پس په دی دهیچا حق نشته اسما نونه او ملایك په دی خبره شاهد دی «والله علی ما نقول شهید» دو صیت پا نه ئې دود اد په لاس ور کړه دسپین زیری روح والوت. وداد پرې ځاد رو غوړاوه اولاسونه ئې ورښکل کړل په دی وخت کی وداد دخپلی ازادی خط په لاس نیو لی دخپل ساتلی توتی پنجرې له ورغله اوهغه ئې له پنجرې نه ازاد کړ، توتی وزرونه خو اره کړل. اودونو په ښاخونو په خو شالی په الو توشو او (وداد) دخپل وطن په لور دتلو وزرونه خپا ره کړل.

بیاهم هغه کشتی ده او وداد پکښی ناسته ده داخل ددریاب څپې له خوشالی څخه ناڅی او پور ته پور ته غو رځی.

وداد خپل کلی ته را ورسیده دباهر کور دپخوا غو نډی بیاله هر څه ډك شوی ؤ ښه ژو ندون ؤ ښه ساعت ؤ هرڅه ډېرؤ خو یوا ځی (وداد) پکښی نه وه هغه هم خدای (ج) دنا امیدی له تیرو نه بهر راوو یستله باهر په کور کی ددو ستانو مجلس جوړ کړی ؤ اود خوښی او خو شالی لو یه تولنه وه په دې وخت کی د قربانی دونی خوږه میوه (وداد) دباهر په انګړ را ننو تله اوه خپلی خوند وری نغمې اوازئې او چت کړ دا اواز د باهر په غوږ ونو اشناو لګیده ورپاڅید، وروځغلید — مخی له ورغی چه کوری خوږه ایما نداره وداد وه، یوبل ته ور غاړه وتل یوبل ئې په غیږ کی ونیول، بیائې یوبل ښکل کړل په همدې ساعت کی وداد خپله داؤدی نغمه دباهر دزخمی زړه درغېدو دپاره شروع کړه. په دې وخت کی دسینما خلکو چك چکی شروع کړی او ماتر ستر ګوورته داوښکو مرغلری نثار کړې — بس قصه هم ختمه شوله او سینما هم

(رشتین) ۱۳۳۱ د کابل له مجلی

د اورنگ زیب معاشقه

په مغلی پاچهانو کښی اورنگ زیب په دینداری سره مشهور دی او په دې وجه ئې په ځان باندی د محی الدین لقب ایښی دی، وائی چه ده دمذهبی شیانو ډېر قدر کاوه او دینی چارو ته به ئی داحترام په ستر گه کتل مگر دا هرڅه چه ؤ در کاټ په یوه مخ و، د ر کاټ په بل مخ ئی دمعاشقی خبر ی هم ثبت شوی دی، دادی دده دمعاشقې د دفتر یوه پاڼه په لاندی کرښو کښی و گوری ء چه د مولانا ابوالکلام ازاد له غبار خاطر څخه رانقل شوې ده.

دهند دبرهان پور په شاوخوا کښی زین آباد نومی یو کلی ؤ په دې کلی کښی یوه ښکلی سرود گره اوسېده چه دزین آبادی په نامه مشهوره وه دې سرود گرې دخپل ښایست اوخوږو نغمو په غشو او کټارو اورنگ زیب دشاهزادگی په زمانه کښی ژوبل کړی و، داورنگ زیب دد غی معاشقې قصه ډېره خوندنا که ده - نو غوږ ورته ونیسی ء او وائی وری ء - !؟

یوه ورځ اورنگ زیب دبرهان پور په «اهوخانه» نومی باغ کښی دهواخوری دپاره قدم واهه، په دغه ورځ دده ترور د میر خلیل خان زمان ښځه هم د خپلو خاصو خدمتگارانو سره دغه باغ ته دسیل او گرزېدلو دپاره راغلې وه. په دغو مېر منو کښی، یوه زین ابادی هم وه چه د ساز په نغمو کښی او په نازو نخرو کښی بې نظیره وه.

اورنگ زیب د خپلی ترور درنگینی ډلی سره ملگری شو او د خوند او کیف نه ډك باغ وبڼ کښی په خوږه تفریح اوهوا خوری بوخت شو. دغه د لطافت ټولگی دیوې داسی ونی دسیوری لاندی و درېده، چه له څانگو څخه ئی سره اوژ یړ (امونه) را ځوړندو - په دې وخت کښی زین آبادی

نه د شهزاده څه پروا وکړه او نه ئی دده د ترورڅه خیال وساته، په پوره بی پروائی او شوخی ئی د دغی ونی یوه اوچت ښاخ ته ور توپ کړ او مېوه ئې تری راوشکوله - دا شوخی دخان زمان په ما ینه باندی ښه ونه لګېده او په څېره کښې ئې ورته قهر پیدا شو په دې وخت کښی زین آبادی په مخصوص انداز کښی دناز اومکیز نه ډکی سترګی شهزاده ته ور واړولې او بیچاره ئی دزړه په سر وویشت، دسترګو په دې یوه ګوزار ئی دشهزاده فیصله وکړه او دصبر وقرار مانۍ ئې ورله وېجاړه کړه.

ډېر هوښیار به لیونی کاندی پوهېږم

کرشمې د پرېواری بی څه نه دی

په دی باب کښی نواب شهنواز خان د مأثرالامر مؤلف لیکلی دی:

«بکمال ابرام وسماجت زین آبادی را از خالهٔ محترمهٔ خود گرفته، بان همه زهد خشك ونفقه بحت، شیفته ودلدادهٔ او شد، قدح شراب بدست خود پر کرده میداد، گویند روزی زین ابادی هم قدح باده پر کرده به دست شهزاده داد و تکلیف شرب نمود»

یعنی په ډېره ازادۍ او منت ئې زین ابادۍ له خپلی ترورڅخه واخستله اوسره له هغی تشی پرهیز ګارۍ او پوچی دینداری چه دی ور باندی مشهور شوی ؤ د زین آبادۍ په عشق او مینه کښی داسی بی اختیاره او بې وا که شو چه په خپل لاس به ئی دشرابو پیالې ډکولې او هغی ته به ئې ور کولی وایی چه یوه روځ زین ابادۍ په خپلو لاسو دشرابو ډکه پیاله اورنګ زیب ته وړاندی کړه - شهزاده ورته په ډېره زارۍ وویل چه: زما عشق او مینه ددې جام په چښلومه ازمیه، لاکن دې پرې رحم ونه کړ آخر شهزاده له ناچارۍ

اراده‌و کړه چه د شرابو په دغه پیاله باندی شونډی کښېږدی کوم وخت چه دې دشهزاده بی بسی‌او بی‌باکی ولیده اودی‌دپیالې چښلوته‌تیارشو نوژر ئی ترې پیاله راښکله او وئې‌ویل: «زما غرض دعشق امتحان ؤ هغه و شـو دامعامله ورو ورو داسی‌حدته ورسېده چه‌شاه جهان پری خبر شو اود واقعو دلیکو‌نکو په پاڼو کښی‌ددې قصی خبرې ولیکلی شوې ـ دارا شکو ددې قصې په وجه‌دچو غلۍ موقع‌وموندە او پلارته‌ئې‌داورنـگ‌ډېری خبری ورسولې: چه و گوره دې ریا کار څه رنـگه‌له ځان څخه پرهیز گار اوښه سړی جوړ کړی و، دامعلومه نه‌وه چه‌دا غوټۍ به څر نگه غوړېدله، مگر قضاؤ قدر په خپله فیصله و کړه او عین دځوانۍ اوپیغلتوب په وخت کښی‌زین ابادۍ له دنیا تېره شوه چه قبر ئې تر اوسه په اورنگ اباد کښی‌دیوه لوی تالاب په غاړه پروت‌دی، وائې چه اورنـگ زیب ددې په مړینه ډېر غمجن شو او سخته صدمه ورور سېدله نوپه دغه روځ ئې دښکار کولو حکم و کړ ـ په دې خبره خلکو نه تعجب پیدا شوچه‌د داسی غم په ورځ ښکار او تفریح کول څه معنی لری؟ کله چه اورنـگ زیب‌ښکارته‌ووت نوسرلښکرعاقل خان په یو گوښی او ځانله وخت کښی اورنـگ زیب ته عرض و کړ چه ددا سی غم‌او نول په‌وخت کښی‌ښکارته تلل څه سبب لری؟ـ اورنـگ‌زیب په جواب کښی‌داشعر ووایه:

ناله‌های‌خانگی‌دل‌راتسلی‌بخش نیست ـ دربیابان میتوان فریادخاطرخواه کرد

په دې وخت کښی دعاقل خان له خولې نه‌دا شعر ووت:

عشق چه آسان نمود ـ آه‌چه دشوار بود ـ هجر چه‌دشوار بـود ـ یار چه‌آسان گرفت. داورنگ‌پرزړه‌رقت‌او نرمی را غله پوښتنه ئې و کړه چه دا شعر دچا دی؟ عاقل خان وویل:

دهغه‌چادی چه ځان شاعر نه بولی اورنګ زیب پوه شو چه دا شعر پخپله دعاقل خان دی.

اورنګ زیب دموسیقی په فن کښی هم لاس درلود مګر په ښکاره ئې دې خبر وته شا کړی وه.

په عمومی لحاظ دمغلو پاچهان ټول عشرت پرست او په مستۍ او نشو کښی ډوب وو— داورنګ زیب دمعاشقی رکاټ موو اوریده خوشحال خټک د دې رکاټ په عاړه کښی داورنګ زیب دمسلمانۍ په باب یو شعر هم لیکلی دی هغه دا دی :

چه په نام پښتون غوڅیږی دی خوښیږی—اورنګ هسی رنګ پاچا دی داسلام

«رشتین»

دعشق قیمار

کوپید (دعشق رب النوع) زما د گرانی محبوبی سره په مچه «قیمار» شروع کړ . . . . . کوپید خپل غشی او لینده با یله ، بیا ئې لو به دمور دقمری کوترو پرسر شروع کړه ـ هغه ئې هم ټولې له لاسه ووتلې ؛

بیائې دشو نډو مرجان — دبارخو گل ـ دتندی ځلا — دزنی څاه زما پر محبوبې گرو کړه — داهم ولاړ . . . .

په دې وخت کښی چه کوپید له خپلی ټولی شتمنۍ څخه خلاص شو نود خپلو ستر گو ځلانده گوهرئې په منځ کښی کښېښوول ، هغه هم زما گرانی شهۍ ته تسلیم شول — اوړوندشو ، نواې عشقه! ته چه کوپید (دعشق رب النوع) ړندوې زما حال به ستا سره څه وی او پر مابه څه زړه سوی ؤ کړې ! ؟

(جان لیل) کابل مجله

جگی ماڼی او وریښمینی جامی

نور څه نه و، صرف د مستیوبې واکو قهقهو، چه کله به د نڅا یوسپك مگر زړه پاڅونکی شرنگ او کله به د خوږو نغماتو یوه نرۍ په پرده نغښتې مگر زړه وړونکې ازانگه هم پری گډېدله د هوا څپی سره رېږدولی.

هلته، د دې عیشو طرب په شخول کښی یو مړ ژواندی زگېروی چه کله به د «خه یل لالی» (خیر راوړی ء) رېږد ېدونکی ږغ هم ور سره ؤد هوا څپو ته سپارل کېده داغو ټاشکې (۱) دیوه خوار ژواکی واړه ماشوم وې چه د تروږمۍ د تېر ماخستن په توره در بیله کښی له ساړو کپڼۍ (۲) اخستی او له ترغونی ماښام څخه دیوې وچی سړې گولې په نامراده هیله د جگی ماڼۍ په لوی تړلی وره پوری زنگېده، دیتیم ماشوم ږغ داستر حام له ډېر و نار و څخه درېدلی ؤ آوازی ترخوله نه خوت.

د روستی ځل له پاره لوږی او ساړو مجبور کړ په داسی حال کښی چه ستونی یی له غرېوه ډك، ډك کېده او ساه یی په سینه کښی نښته د خپل روستی ږغ «خه یل لالی» سره یی لڅه ککره د جگی ماڼۍ پر کلك در شل (۳) و نښته

☆ ☆ ☆

په دې ترڅ کښی یوه بېوزله ښځه چه چټکو مگر بې سېکو (٤) گامو او پلټونکو مگر رنځورو کتوئی یو جدی تلاښ وطلب څرگنداوه دغی خوا ته راورسېدله په خوراتپاك یی ورو ځغستل او هغه نیم بربنډلاښ یی په ډېره مینه په خوا پورې و نیو چه مخ ته یی و کتل ناڅاپه یی یوه سوې کرېږه ترخو له وختله او په داسی حال کښی چه خوله یی له ژړا مرۍ مرۍ کېدله وویل:

«خواره کونډ کۍ موردی ترتاو گرزی هغسی دی ځان ترخپلی معصومی ناپوهۍ جار کړ چه: سړی دی په جگو ماڼیو او زړونه دی په وریښمینو جامو کښی پلټل» رشاد قندهاری

---

(۱) غو ټاشکی: رمق آخرین حیات (۲) کپڼۍ: لرزه (۳) در شل: آستانه، چوب زیرین دروازه (٤) بې سېکه: ناتوان.

د لور قاتل

دا یوه عجیبه گناه ده . . پلار خپله لور ووژله او جزا ئې و منله او دده عقیده داوه چه دا قتل پر ما حق ؤ او ما د خپل شرف د دفاع ځخه کوم زیات کار نه دی کړی .

درې کسه دا تهام په پنجره کښې د جنا یانو د محکمې په مخ کښې ودرېدل دوی دیوې ښځې په وژلو کښې سره شریك شوی دی رومبی ئې پلار، دوهم ئې مېره او دریم د هغې کوډې خاوند دی په کومه کښې چه د ښځې سا و بستل شوی ده .

کله چه د محکمې رئیس د پلار نه پوښتنه و کړه چه : «تا خپله لور مړه کړې ده ؟ » نو هغه وویل : زه د « الصعید » نه قاهرې ته د کډې سره راغلی وم او شرف زما پوازینی ملکیت ؤ زما کډه زما د یوې ښځې او دوو وړو جینکو نه مر کبه وه . ما به ډېر گران گران کارونه کول او او ددې دپاره چه دوی ماړه وسا تم . همیشه به می په خپله شا تیږې او د تعمیرو نو مواد را چلول، توله ورځ به بوخت وم او بیگائی به کړته ددوی د « غذا » سره په خوشاله زړه را گرزېدم . ډېر کلونه تیر شول ما شومان بلوغ ته ورسېدل او یوه ئې بېځې دور کولو د (ازدواج) عمرته ورسېده نو دهغې د غوښتلو د پاره دوه زلمی را وړاندې شول یو ئې دیوې قهوه خانې خاوند و ، او دورځې ئې ښه گټه لرله او بل ئې یو فقیر کاریگر و، ما دغه غریب کاریگر ته چه زما هم خرریبی و، ور کړه . دی یو صعیدی زلمی ؤ چه په خپل شرف ئې ډېر غیرت کاوه او دهغه نه ئې روح جاراوه دواده نه لږ وروسته د ښځې او مېره په منځ کښې جګړه پیدا شوه ځکه

چه ده به د سینما له تلو څخه منعه کوله او هغې به دخپلی ازادۍ د پر اصرار کاوه دا زما دپاره یوه مفاجاتی جټکه وه - او زه هیڅ نه پوهېدم چه زما لور به گوندی «صعیدی» تقالید هېر کړی وی ددې د سینما مینی زه دومره راویارولم چه ومی ویل دا باید ددې خپل مېړه په پښو کښې قربانی شی - «دطلاق دور کولو نه وروسته ماته بیا هغه دقهوه خانې خاوند راغی کوم چه ما پخوا له دې نه دخپلی لور د ازدواج په باب کښې رتلی ؤ - ده له ما نه وغوښتل چه دغه لور دی ما ته په نکاح را کړه (که څه هم دې نجلۍ پخواله دې بل مېړه کړی ؤ) او یوڅه روبۍ ئې دمهر په ډول هم ومنلې دلته نو زما په زړه کښې شك پیدا شو او داسی می گمان و کړچه ښکاری ددوی په منځ کښې پخوا له دې چه زه ئې هغه بل سړی ته ورا کړم کومه علاقه موجوده وه ماده بلنه رده کړه خودی همد غسی رایسې ؤ ترڅو ئې چه په لوړ اواز وو یل : «هغه زما خو ښه ده اوزه دهغې خوښ یم او هغې د خپل ترورزوی نه زما د پاره طلاق اخستی دی نوزه ځکه د واده کلکه اراده لرم چه دا قیل و قال خلاص شی» زه ډېر په غضب شوم او په زړه کښې می تېره کړه چه دورمېږ نه ئې ونیسم اوساه تري وباسم خوبیا می و کولای شو چه خپل قاروز غمم ماهغه ته په دې اصرار و کړچه تا ته خپله لور نه در کوم — بیا می دهغې او مېړه په منځ کی سوله و کړه او بیرته می هغه ته ور کړه چه دفسا دله کندی نه ئې راوباسم مګر هغی خپل کار ته ډېر ژر بیرته رجوع و کړه - تر دې چه عادتاً به ئې خپل مېړه ته مشکلات پیش کول او معامله ئې ډېره بده شوه کله چه ددوی شکایت ډېرشو نو ما یقین و کړچه دا دایماً دقهوه خانی دخاوند تر تاثیر لاندی ده —

د پښتو ټولنی تازه خپرونی

۱ : لوړ خیالونه اوژور فکرونه ـ د ګل پاچا الفت اثر یوجلد په (۸) افغانۍ

۲ : د اورلمبې دښاغلی خیبری اثر یو جلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه د اقبال په نظر کښی دښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق دښاغلی الفت اثر یو جلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس دښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

د اکتابونه د پښتو ټولنی په پلورنځی کښې موجوددی.

کابل مجله

دامجله دپښتو په خوازه ادب ادبی تنده ماتوی

دامجله دپښتنی دنیا دمعرفۍ یوازینۍ وسیله ده

دامجله دتیرو او ، اوسنیو پښتنو پرژوند ښه رڼا اچوی

تاسی کولای شیء چه داتنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په دننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلداری په نورو دباندنیو هیوادونو کښې په (۳) دالره ماته کړیء

دښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

دنوی کال داشتراك دپاره په کابل کښې همدغه بیه دپښتو ټولنی دمحاسبې مدیریت ته اوپه ولایاتو کښی دهمدې مؤسیسی دجاری شمېر په ۷۱۸۷۵ لمبر افغانستان بانك ته سپارل کیږی

دولتی مطبعه